# گریم نکلونه




ژباړن
دیپلوم انجنیر اسدالله ملکزی



افغانیک


گریم نکلونه


ژباړن دیپلوم انجنیر اسدالله ملکزی


گریم نکلونه په آلماني ژبه کې پېژندل شوی او نورو ژبو ته ژباړل شوی مهم اثر دی. د خوښۍ ځای دی، چې دا نکلونه په پښتو ژبه کې هم د چاپ فرصت مومي. دغه نکلونه په نولسمه (۱۸۵۸ - ۱۸۱۲) پېړۍ کې د یعقوب او ویلیم گریم لخوا چې په گریم وروڼو سره شهرت لري، خپاره شوي دي. گریم وروڼو په نولسمه پېړۍ کې د خلکو نکلونه راټول کړل، و یې لیکل او خپاره یې کړل. *یحیی وردک*

څرنگه چې د خپلې علمي څانگې او مسلک په برخه کې ما خپل ځان د خپل ملت د محصلینو پوروړی باله، په همدې توگه زه خپل ځان د ملت د خوږو ماشومانو پوروړی هم بولم.. له نېکه مرغه دا دی څو خیالي نکلونه چې ما راټول کړي، تاسو خوږو ماشومانو ته یې په مینه ډالۍ کوم. *دیپلوم انجنیر اسدالله ملکزی*



## Grimm's Fairy Tales
## by The Brothers Grimm


Translator
**Dipl Eng Assadullah Malakzay**



**Afghanic e.V.**

ISBN 978-9936-633-52-0

اقرأ باسم ربك

# گریم نکلونه

ژباړن: دیپلوم انجنیر اسدالله ملکزی

# کتاب پېژندنه

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | گریم نکلونه |
| ژباړن | دیپلوم انجنیر اسدالله ملکزی |
| خپرندوی | افغانیک |
| چاپ | ۱۴۰۱، لومړی چاپ |
| چاپ شمېر | ۱۰۰۰ |
| ډاونلوډ | www.ecampus-afghanistan.org<br>www.afghanic.de/download |


© د نقل قول او کاپي کولو اجازه په هغه صورت کې شته چې  سرچینه وښودل شي.

۲۰۲۲ CC BY NC ND

ای اس بي ان ۰-۵۲-۶۳۳-۹۹۳۶-۹۷۸

# د مطالبو لیکلړ


د گریم (Grimm) خیالي نکلونو د پښتو ژباړې سریزه........................................ ۱

د ژباړن سریزه............................................................................ ۳

د خپرندوی یاددښت..................................................................... ٤

سره خولې نجلۍ ........................................................................ ۷

واورینه نجلۍ ........................................................................... ۲۱

ایرنه نجلۍ ............................................................................... ۳٦

لېوه او د وزې اووه کوچني بچي ........................................................ ۵۲

اغزنه گلالۍ.............................................................................. ٦٦

غم غبېل ................................................................................. ۸۰

راپونځېل ................................................................................ ۹۱

چونگښ باچا............................................................................ ۱۰۵

هېنځېل او گرېټل ....................................................................... ۱۱۹

موزه لرونکې پیشو ..................................................................... ۱۲۹

د ژباړونکي لنډه بیوگرافي ............................................................ ۱٤۳

# د ګریم خیالي نکلونو (Grimms Märchen) د پښتو ژباړې سریزه

دوه سوه کاله مخکې دوه جرمني ورونه، چې یو یې یعقوب ګریم (Jakob Grimm) او بل یې ویلهیلم ګریم (Wilhelm Grimm) نومېده، د ماشومانو لپاره خیالي نکلونه راټول او ولیکل. هیله ده چې د افغان ماشومانو میندې او پلرونه، نیاګانې، نیکونه او یا خپله ماشومان په خپلې مورنۍ ژبې - پښتو کې د ګریم نکلونه په خوشحالۍ سره ولولي. هغه نړۍ چې په دغو نکلونو کې راښودل کېږي، د افغان ماشومانو له چاپېریال سره هرو مرو توپیر لري، خو په افغانستان کې هم دې ته ورته نکلونه شته دي.

لکه څنګه چې په تېرو دوه سوه کلونو کې دغو نکلونو ډېرو جرمني ماشومانو ته خوشحالي ورپه برخه کړې ده، زه هیله‌من یم چې افغان ماشومان هم د دغو نکلونو له لوستلو او یا اورېدلو څخه خوند او پند واخلي، ځکه چې زیاتره وخت له یو نکل څخه انسان یو څه زده کولای شي.

د دې کتاب ژباړن ښاغلي انجنیر اسدالله ملکزي په خپلې ژباړې سره دا ستره مرسته کړې، چې افغان ماشومانو ته په پښتو ژبه د دوی د خوب او خیال نړۍ تمثیل کړي.

په تېرو پنځه پنځوس کلونو کې زه څلور ځلې افغانستان ته تللی یم. آن دا چې یو ځل له خپلې کورنۍ سره درې کاله په کابل کې پاتې شوی یم، ما د دې ښکلي او مېلمه‌پال هېواد لر و بر ته ډېر سفرونه کړي دي. دا هغه وخت وو چې زموږ مشره لور به درې یا څلور کلنه وه. د هغې افغانۍ (ادې) او د افغانستان ښایسته ولایت پنجشېري آشپز، غلام نومي شخص موږ ته د افغاني کیسو په برخه کې ډېرې خبرې کولې.

د دې کتاب د چاپ لګښت د يو ځنګل خاوند، يو مهربان او سخاوتمن سپين ږيري جرمن په غاړه اخيستی دی، چې له افغانستان سره ډېره مينه لري او خپله هم ګڼ شمېر لمسيان او کړوسيان لري.

په دې کتاب کې د سرې خولې نجلۍ، واورينې نجلۍ، ايرنې نجلۍ، لېوه او د وزې اووه کوچني بچي، اغزنې ګلالۍ، غم غښېل، راپونځېل، چونګښ باچا، هېنځېل او ګريټېل او موزه لرونکې پيشو نکلونه راغلي دي.

پخوا به ډېرو آلماني ماشومانو دا سندره ويله: «له هنځېل او ګريټېل نه په ځنګله کې لار ورکه شوه، هلته تورتم وو او هوا ډېره سړه وه. هغوی يوې کوټنۍ ته ننوتل، چې له تورو مرچو او خواږه کېک څخه هم نازکه وه. په اټکلي ډول څوک د دې کوټنۍ څښتن کېدای شي؟»

دا کتاب د خيالي نکلونو څلورم افغان ـ آلماني کتاب دی، چې له چاپه راوزي. له دې څخه مخکې لاندې درې کتابونه هم چاپ شوي وو:

لومړی: «عبدل له نصواري غرونو څخه»، د Elke Hirche ليکنه او د زرمينه روهي ژباړه.

دويم: «ليلا او دېو يا ليلا او بلا» د آرزو پوپل ليکنه چې د کتاب انځورونه ماريا حسين حبيبي جوړ کړي او ناهيد صديق علومي پښتو ژبې ته ژباړلی دی.

دريم: «ملي هېنداره» د محمد ګل نوري ليکنه، چې آلماني ژبې ته هم ژباړل شوی دی.

له سلو کلونو څخه ډېر وخت راپدېخوا د آلمان ملګري هېواد افغانستان ته له جرمني څخه پنځه پنځه سلامونه!

د يورګېن کانې يا يورګېن عبدالله لهخوا

# د ژباړن سریزه

د لوی او بښونکي خدای په نامه

څرنګه چې د خپلې علمي څانګې یا مسلک په برخه کې ما خپل ځان د خپل ملت د محصلینو پوروړی باله، په همدې توګه زه خپل ځان د ملت د خوږو ماشومانو پوروړی هم بولم. په دې لړ کې دا دي څو خیالي نکلونه چې ما راټول کړي، تاسو خوږو ماشومانو ته یې ډالۍ کوم.

کله چې زه یوازې ناست یم نو له ځان سره فکر کوم چې اې لویه خدایه! زه څه وکړم چې زما مظلوم هېوادوال ترې ګټه پورته کړي؟ هماغه وو چې کله به ما خپلو لمسیانو ته د هغوی د ویده کېدو پر مهال کیسې کولې نو دا مې لازمه وګڼله چې دغه کیسې د ګران هېواد خوږو ماشومانو ته هم ډالۍ کړم.

ګرانو او زړه ته را نږدې ماشومانو! تاسې د هېواد راتلونکی او څراغ یاست، خدای (ج) مو په روغ صحت بریالي او سرلوړي لوی کړه چې دا خوار ملت دربانديې وویاړي.

ډیپلوم انجنیر اسدالله ملکزی

# د خپرندوی یاددښت

ګریم نکلونه په آلماني ژبه کې خورا پېژندل شوي او نورو ژبو ته ډېر ژباړل شوي آلماني نکلونه دي. د خوښۍ ځای دی چې اوس دا نکلونه په پښتو ژبه چاپېږي. دغه نکلونه په نولسمه پېړۍ (۱۸۵۸- ۱۸۱۲) کلونو کې د یعقوب او ویلیم ګریم لخوا چې په ګریم وروڼو مشهور وو، خپاره شوي دي.

د نکلونو په هکله باید ووایو، چې موږ دوه ډوله نکلونه پېژنو؛ یوه یې کیسه ده، چې یو معلوم لیکوال لیکلې وي او دویم ډول یې د خلکو نکلونه دي، چې د وګړو لخوا له پېړیو پېړیو راهیسې یو بل ته په شفاهي ډول ویل کېږي. ګریم وروڼو هم په نولسمه پېړۍ کې د خلکو نکلونه راټول کړل، ویې لیکل او خپاره یې کړل.

اوس پوښتنه دا ده چې واړه، ځوانان او لویان ولې نکلونه لولي او خوښوي یې؟

د دې پوښتنې په ځواب کې باید وویل شي، چې زیاتره وخت په دې ډول په زړه پورې نکلونه د انسان په حافظه کې پاتې کېږي. زما خپله په یاد دي کله چې زه په کابل کې د ښوونځي په لومړنیو ټولګیو کې زده کوونکی وم، د ژمي لخوا به وردګو ته خپلې د نیا او نیکه کره تللو او د شپې له ډوډۍ خوړولو وروسته، تر ویده کېدو مخکې به د خوب په بسترو کې پراته وو، هغوی به نکلونه راته ویل چې یو یې د سیف الملوک مشهور نکل وو،چې هر ماښام به یې د دې نکل یوه برخه موږ ماشومانو ته اوروله. البته په دې ډول چې د قاف غرونه، دېوان او ښایسته ښاپېرۍ به هم پکې یادېدلې. په دغو نکلونو کې له بېلابېلو خطرونو او ستونزو سره اوږده سفرونه هم راتلل، چې یاد نکلونه تر اوسه زما په ذهن کې شته دي او له ذهن څخه مې نه دي وتلي.

همداراز ځینې نکلونه سرې ډېر فکر کولو ته هڅوي، یو حکمت پکې پروت وي او د ټول عمر لپاره زده‌کړه ترې کېدای شي. همداراز د کابل په ملي ټلویزیون کې مې د بزک چیني نکل لیدلی او حتا دا نکل به په ښوونځیو کې هم د ننداري په توګه وړاندې کېده.

په ۲۰۰۱ ز کال په هامبورګ کې د افغانستان اوونۍ (کنفرانس) ته یوه آلمانۍ مېرمن راغلې وه، چې هر ماښام به یې موږ او یو شمېر کوچنیانو ته آلماني نکلونه ویل. موږ ډېرو افغانانو ته دا خبره په زړه پورې وه؛ ځکه چې موږ هم په افغانستان کې همداسې نکلونه لرو چې په ماشومتوب کې مو اورېدلي او دغو نکلونو له یو بل سره ډېر ورته‌والی درلود.

زما خپله هم د ښوونځي د وخت یو کوچنی نکل په یاد دی، په دې ډول چې یو بوډا د مرګ په بستر له مړینې څخه مخکې خپل اووه زامن ځان ته راغواړي او وايي، چې اووه لښتې راکړئ. وروسته پلار د زامنو مخکې اووه لښتې یوه یوه را اخلي او په آسانۍ سره یې ماتوي. په همدې توګه بیا اووه لښتې یوځای کوي او کوښښ کوي چې ماتې یې کړي، خو د بوډا زور په لښتو باندې نه رسېږي او دا ځل لښتې نه شي ماتولی. بیا نو خپلو زامنو ته وايي: «اې زما ګرانو زامنو! ښه په یاد ولرئ. که تاسو د همدې لښتو په څېر یوځای او په اتفاق وئ، نو هېڅوک مو نه شي ماتولی، خو که سره جلا او ځان ځان ته وئ، بیا به مو د همدې لښتو په څېر یو یو مات کړي.»

له پورته نکل څخه خپلو اولادونو ته د پلار مطلب یووالی او د بېلتون د ګټې او تاوان ښودل وو. همداراز په هر نکل کې یو مطلب او هدف پروت وي، چې لوستونکی یا اورېدونکی یې ترې اخلي.

ډېری نکلونه په ساده او واضح انځورونو کې بیانېږي، همدا علت دی چې نکلونه د زیاتره ماشومانو خوښېږي، مطلب ترې اخیستلی او پر خپلو احساساتو باندې پوهېدلی شي.

همدا راز ماشومان په ځینو پېچلو مسایلو لکه د یتیم او میرې، خوابنې او نګور او داسې نورو په اړیکو او ستونزو ښه پوهېدلی شي.

په پای کې زه له ښاغلي انجنیر اسدالله ملکزي صیب څخه یوه نړۍ مننه کوم، چې د ګریم لس آلماني نکلونه یې په عام فهمه او روانه ژبه له آلماني څخه پښتو ته راژباړلي دي. خدای دې وکړي چې ملکزی صیب دغې لړۍ ته په راتلونکې کې هم دوام ورکړي او پښتو ته نور نکلونه راوژباړي.

د یادونې وړ بولم چې ښاغلي انجنیر اسدالله ملکزی په ورستیو شلو کلونو کې څو ځلي افغانستان ته سفر کړی او هلته یې د انجنیرۍ په برخه کې خدماتي چارې اجرا کړې دي. نوموړي د دې تر څنګ په خپل مسلک کې هم خورا مهم درسي کتابونه لیکلي، چې څلور کتابونه یې د افغانیک بنسټ لخوا چاپ او د افغانستان په پوهنتونونو کې د درسي کتابونو په توګه ګټه ترې اخیستل کېږي.

په درنښت

یحیی وردک، بُن ښار، د ۲۰۲۱ ز کال د جنوري میاشت

# سره خولۍ نجلۍ



په پخوا زمانو کې يوه کوچنۍ نجلۍ وه هر چا به چې ليدله، ډېره به يې خوښېدله. په تېره بيا دا نجلۍ په خپلې نيا ډېره گرانه وه. يوه ورځ د نجلۍ نيا خپلې لمسۍ ته يوه بخملي

خولۍ جوړه کړه دا خولۍ د نجلۍ دومره خوښه شوه، چې له همدې خولۍ پرته به يې بله خولۍ نه په سر کوله. نو له همدې امل د سرې خولۍ نجلۍ په نوم يادېدله.

يوه ورځ د  سرې خولۍ نجلۍ مور خپلې لور ته وويل: «سرې خولۍ! راشه دا يوه ټوټه کېک او يو بوتل شربت واخله او خپلې نيا ته يې يوسه. هغه ډېره کمزورې او ناروغه ده، کېداى شي له دې سره لږ انرژي واخلي، خو ډېر پام کوه چې له لارې څخه کږه او بېځايه نه‌شې، که نه نو بوتل به در څخه مات شي او رنځوره نيا به دې د خوراک لپاره هېڅ شی ونه لري.»



سرې خولۍ له مور سره ژمنه وکړه او ويې ويل: «زه به هر څه په ښه ډول خپلې نيا ته ورسوم.» د لاس ښورولو په وسيله يې  مخه ښه وکړه او روانه شوه.


NS
21

نیا یې له کلي څخه بهر په یو ځنګل کې اوسېده او تر هغه ځایه پورې شاوخوا نیم ساعت لاره وه.

کله چې سره خولې ځنګل ته ور دننه شوه هلته له یوه لېوه سره مخ شوه.

لېوه ورته وویل: «ورځ دې په خیر سرې خولې، په دې شنه سهار چېرته روانه یې؟ او په دې ټوکرۍ کې دې څه شی دي؟»

سره خولې هېڅ ونه وېرېده. دا نه پوهېدله چې دا څومره یو داړونکی او خطرناک ژوی دی.

سرې خولې په بې‌پروایۍ سره ځواب ورکړ: «زه خپلې نیا ته ورځم او هغې ته کېک او شربت ور وړم. دا شیان مې مور راکړي دي ځکه چې زما نیا رنځوره او کمزورې ده او له دې خوراک او څښاک سره به انرژي واخلي.»





لېوه ترې پوښته وکړه: «سرې خولې! ستا نیا چېرته ژوند کوي؟»
سرې خولې په عادي توګه ځواب ورکړ: «له دې ځایه زما د نیا تر کوره نږدې پنځلس دقیقې لار ده، د هغې کور د ځنګل په منځ کې دی او د کور په سر يې د څېرۍ درې لويې ونې ولاړې دي.»
لېوه فکر وکړ او له ځان سره يې وويل: ښه، ښه ده: «دا کوچنۍ نجلۍ به يو غوړ خوراک وي او نظر هغې بوډۍ ته به ډېر خوند راکړي. څه وکړم چې دا دواړه وخوړلی شم؟»
لېوه یوه شېبه د کوچنۍ نجلۍ په خوا کې ورو ورو روان شو.
وروسته لېوه يو دم غږ وکړ: «سرې خولې غوږ شه! تا دا ښکلي ګلان نه دي ليدلي چې دلته په ځنګله کې ښکاري؟ ته ولې شاوخوا ته نه ګورې؟ زه فکر کوم چې ته هېڅ شی نه اورې. مرغان دلته څنګه په خواږه آواز سندرې وايي. له بلې خوا ته داسې روانه يې لکه ښوونځي ته چې ځې. وګوره، دلته په ځنګله کې څومره په زړه پورې شيان دي؟»
کله چې سرې خولې شاوخوا ته په ځير وکتل، نو ويې ويل: «هو رښتيا، لېوه رښتيا وايي.»
سرې خولې وليدل، چې د لمر وړانګې د ونو له منځ څخه څومره ښايسته تېرېږي او دلته څومره ښکلي ګلان ولاړ دي.»
دې نجلۍ فکر وکړ: «که زه خپلې نیا ته یوه ګېډۍ ګلان یوسم نو نیا به مې حتماً خوشحاله شي. له بلې خوا اوس خو لا ورځ اوږده ده، زه کولای شم چې خپلې نیا ته په وخت ورسېږم.»
سره خولې په دې توګه له لارې وزي او د ګلانو د ټولولو لپاره د ځنګل منځ ته ننوزي. کله يو ګل پيدا کړي، بيا له هغه څخه وروسته بل ښکلی ګل پيدا کړي. همداسې يو په بل پسې ګلونه پيدا کوي او د ځنګل منځ ته لاره مومي.
په دې وخت کې لېوه د نجلۍ د نیا کور ته ورځي او د کور دروازه ټکوي.



نیا يې غږ وکړ: «بهر څوک یاست؟»

لېوه په خپل بدل کړي غږ سره ځواب ورکړ: «زه سره خولې یم، کېک او شربت مې درته راوړي.»
نیا وویل: «هغه ځنځیر ته زور ورکړه ور خپله خلاصېږي. زه کمزورې یم او له کټ څخه نه شم پورته کېدی.»
لېوه ځنځیر ښکته پورې وواهه او ور یې پر مخ خلاص شو. دغه ظالم لېوه د نیا په کټ یرغل وکړ او نیا یې ژوندۍ ګړوت کړه او بیا یې د هغې جامې واغوستلې. بالآخره یې د نیا د کټ مخې ته پرده راکش کړه او پرېوت.
سره خولې لا هم د ګلانو په ټولولو بوخته وه او یو په بل پسې یې ښکلي ګلان راټولول.



کله چې دغې نجلۍ دومره ګلان راټول کړل چې نور یې په لاسونو کې نه ځایېدل، نیا ورياد شوه. له همدې سره جوخت نجلۍ ببېره وکړه څو لنډه لار ونیسي او ژر تر ژره خپلې نیا ته ځان ورسوي.

کله چې هغه د خپلې نیا کور ته ورسېده ویې لیدل چې د کور ور خلاص دی، نو سره خولۍ حیرانه شوه او کله یې چې بیا له وره څخه د ننه قدم کېښود، یو عجیب غوندې احساس ورته پیدا شو. نجلۍ فکر وکړ چې نن هرڅه ما ته څومره وېرونکي دي، زه خو به هر وخت دلته ډېره په مینه راتلم.

کله چې سرې خولۍ د کټ پرده لرې کړه او کټ ته نږدې شوه ویې لیدل چې نیا یې نن ډېره عجیبه غوندې ښکاري.



سره خولۍ ووېرېده او غږ یې کړ: «اې نیا، غوږونه دې ولې دومره غټ دي؟» لېوه وویل: «دا چې زه ستا غږ ښه واورم.»

بیا یې وویل: «اې نیا! ولې دې سترګې دومره غټې دي؟» لېوه ځواب ورکړ: «دا چې ښه دې ووینم.»

نجلۍ بیا پوښتنه وکړه: «اې نیا، لاسونه دې ولې دومره غټ دي؟» لېوه ځواب ورکړ: «دا چې ښه دې ونیولی شم.»

نجلۍ وویل: «اې نیا، ته څومره وېرونکې خوله لرې؟»

لېوه ځواب ورکړ: « دا چې ښه دې وخوړلی شم.»

څرنګه چې لېوه دا وویل نو سمدلاسه یې له کټ څخه راټوپ کړ او بېوزله نجلۍ (سره خولې) یې ونیوله او ژوندۍ یې تېره کړه.

کله چې لېوه موړ شو، نو بېرته په کټ کې خوشحاله پرېوت او په خوښۍ سره ویده شو.

له دې پېښې څخه ډېر وخت نه و تېر شوی، چې په خرېدا (خور و پُف) یې پیل وکړ. دا خرهاری دومره جګ وو چې حتی دېوالونه هم ورسره خوځېدل. په دې وخت کې یو ښکاري د کور له څنګه تېرېده او له ځان سره یې وویل: «اې خدایه، دا بوډۍ څومره په لوړ آواز خرېږي، زه یې باید یو وار وګورم او پوښتنه یې وکړم چې کوم خطر خو به ورته متوجه شوی نه وي. همدارنګه باید پوه شم چې په دې ښځې خو به څه نه وي شوي.» او له دې سره ښکاري د بوډۍ کور ته دننه شو. کله چې هغه کټ ته نږدې شو، ګوري چې هغه خطرناک لېوه په کټ کې پروت دی چې ښکاري له ډېر وخت راهیسې پسې ګرځېده څو ښکار یې کړي او خلک یې له شر څخه په امن شي. ښکاري په ډېرې غوسې وویل: «ښه نو ته ظالم مې بالآخره دلته پیدا کړې! په تا کې وجدان شته، چې دغه غریبه نیا دې وخوړله؟ زه به له تا نه د دې کار بدل هرو مرو واخلم.»



په همدې وخت کې ښکاري لومړی غوښتل، چې خپل ټوپک ته کارتوس تېر کړي او لېوه پرې وولي. خو يو وار يې فکر ته راغلل: «کېدی شي چې نيا ژوندۍ او د ژغورلو وي. ښه به دا وي چې په ټوپک يې ونه ولم.» ښکاري وليدل چې د نيا يوه قيچي پر مېز پرته ده، هغه يې راواخيستله او د ويده ظالم لېوه خېټه يې پرې قيچي کړه.

کله يې چې د قيچي يو خرپ ورکړ گوري چې د سرې خولۍ سر راښکاره شو. ښکاري چې نور هم له قيچي کولو سره مخ ته لاړ، نو يو ځل نجلۍ ټوپ کړ، د لېوه له نس څخه راووته او غږ يې وکړ: «وی الله، د لېوه په نس کې څومره تورتم او څومره وېره وه.» له دې څخه وروسته زړه نيا هم د لېوه له گېډې څخه ژوندۍ راووتله. سرې خولۍ له ډېرې خوشحالۍ څخه په کوټه کې هاخوا او دېخوا ټوپونه وهل په همدې وخت کې ښکاري سرې خولې ته وويل: «لاړه شه او يو څو دانې غټې ډبرې راوړه.»



په همدې سرې خولې یو په بل پسې غټې ډبرې راوړې. ښکاري دا ډبرې د لېوه په خېټه کې واچولې او بیا یې د لېوه خېټه بېرته وگنډله.



کله چې ظالم لېوه راویښ شو او په ښکاري یې سترګې ولګېدې، غوښتل یې چې ټوپ کړي او د نیا له کور څخه وتښتي، خو ډېرې دومره درنې وې چې لېوه ځای پر ځای ولوېد او مړ شو.

نیا، سره خولۍ او ښکاري درې‌واړه ښه خوشحاله وو.

ښکاري د لېوه پوستکی د پلورلو په موخه وویست، هغه کېک چې سرې خولۍ ورته راوړی وو، نیا یې په خوند سره وخوړ او شربت یې وڅښل. د سرې خولۍ نجلۍ نیا په لنډه موده وخت کې ډېر څه ولیدل. سرې خولۍ له ځان سره وعده وکړه او ویې ویل: «زه به نور د تل لپاره په خپل ژوند کې دا ډول غلطي نه کوم، هر وخت به د مور خبرو ته غوږ نیسم او د هغې په خلاف به کوم کار نه کوم.»



# واورینه نجلۍ



د ژمي د منځ یا څیلي یوه ورځ وه او د واورې څاڅکي به د بڼکو غوندې له آسمان څخه راورېدل. په دې وخت کې یوه ښکلې ملکه د کوټې په کړکۍ کې ناسته وه چې د دې کړکۍ چوکاټونه یې په تور روغني رنګ باندې له رنګ شویو لرګیو څخه جوړ شوي وو. ملکه لګیا وه او څه شی یې ګنډل، د ګنډلو په وخت کې به یې د واورو د اورېدلو بهیر ته ورکتل. په دې وخت کې یې ستن په ګوته کې ننوتله او دوه ـ درې څاڅکي وینه یې له ګوتې څخه د سپینې واورې د پاسه و څڅېدل.



څرنګه چې د وینې سور رنګ په سپینه واوره کې ډېر ښکلی ښکاره کېده، نو ملکې وویل: « ای کاش چې خدای ما ته یوه داسې ښایسته لور راکړي، چې د پوستکي رنګ یې د واورې غوندې سپین وي، شونډې یې داسې سرې وي لکه وینه او وېښتان یې داسې تور وي لکه د کړکۍ د چوکاټونو رنګ.» یو څه وخت وروسته خدای (ج) ورته یوه ښکلې لور ورکړه، چې پوستکی یې د واورې غوندې سپین وو، شونډې یې د وینې غوندې سرې وې او وېښتان یې د کړکۍ چوکاټونو د رنګ غوندې تور وو. نو په دې خاطر یې په نوې ماشومه نجلۍ د واورینې نوم کېښود. ملکه په اولاد باندې مړه شوه، پاچا یو کال وروسته بل واده وکړ، خو نوې ملکه ډېره ښکلې، دماغي او کبرجنه وه.



کله چې دا راواده شوه له ځان سره یې یوه جادویي هینداره راوړې وه. هر سهار به چې له خوبه پاڅېده، هیندارې ته به ودرېده او وبه یې ویل: «هیندارې، هیندارې په دېوال کې، څوک ډېر ښکلی دی په دې هېواد کې؟»

هیندارې به تل په ځواب کې ویل: «مېرمن ملکې، په ټول هېواد کې له تاسو نه بله ښکلې نشته.»

واورینه ورځ تر بلې لویېدله او لا ښکلې کېدله. داسې وخت راغی چې په ښایست کې تر ملکې نه هم تېره شوه.

یو سهار چې کله ملکه هیندارې ته ودرېده او پوښتنه یې وکړه. نو هیندارې په ځواب کې ورته وویل: «مېرمن ملکې! په دې هېواد کې ته ښکلې یې خو واورینه له تاسې نه زر ځلې ښکلې ده.»

له دې ورځې څخه وروسته د ملکې په ځان اور ولګېد او هېڅ آرام یې نه درلود. بالآخره یې ښکاري راوغوښت او ورته یې وویل: «دا نجلۍ ځنګل ته بوځه او هلته یې ووژنه.»



دا چې ښکاري ډېر زړهسواندی شخص وو، نجلۍ يې ځنګل ته بوتله او هلته يې ژوندۍ پرېښوده. واورينه ټوله ورځ هاخوا او دېخوا ګرځېده، کله چې لمر په پرېوتو شو نو واورينې يو وړوکی کور وليد چې يوه وړه دروازه يې درلوده.



دا کور د اووه خنډیانو (لنډقدو اشخاصو) وو. خنډیان په کور کې نه وو او په غره کې د معدني موادو د استخراج فابریکې ته د کار لپاره تللي وو.
واورینه دغه کورگي ته ننوته، په دې کور کې هر څه ډېر کوچني او ښکلي وو. د کور د ناستې په عمومي کوټه کې یو کوچنی مېز ایښی وو چې پر هغه باندې اووه قابونه، د دې خوا ته اووه کاشوغې، اووه چړې، اووه گیلاسونه اېښودل شوي وو او د دېوال تر څنگ اووه کوچني کټونه یو بل ته نږدې اېښي وو.
دا چې واورینه ډېره وږې او تږې وه نو له هر قاب څخه یې یو یو پوټی وخوړ او له هر گیلاس څخه یې لږ لږ اوبه وڅښلې، ځکه دې نه غوښتل چې د یو شخص قاب او گیلاس تش کړي.
دا چې واورینه ډېره ستومانه شوې وه نو په اوه واړو کټونو کې یې داسې کټ پیدا کړ چې تقریباً قد ته یې برابر وو نو سمدلاسه پکې څملاسته او په درانه خوب ویده شوه.
ماښام چې فضا تیاره او شپه را بره شوه خنډیان له کاره خپل کور ته راغلل. دوی پوه شول چې کور ته یې کوم څوک راغلی دی.
لومړي شخص غږ کړ: «څوک زما په چوکۍ کښېناستلی؟»
دویم غږ کړ: «چا زما له قابه خوراک کړی؟»
دریم وویل: «چا زما ډوډۍ خوړلې؟»
څلورم غږ کړ: «چا زما ترکاري خوړلې ده؟»
پنځم وویل: «چا زما له پنجې څخه کار اخیستی دی؟»
شپږم غږ کړ: «چا زما له چړې څخه کار اخیستی دی؟»
اووم غږ کړ: «چا زما په گیلاس کې اوبه څښلې دي؟»
لومړي خنډي و ویل: «څوک زما کټ ته ختلی؟»
دویم وویل: «یو څوک زما په کټ کې پروت وو.»

همدارنگه ټولو وکتل چې يو څوک يې په کټ باندې څملاستلی او بالآخره اووم خنډي ولیدل چې يو څوک يې په کټ کې پروت دی. ټول راغلل او واورينې نجلۍ ته يې وکتل او ويې ويل:

«لويه خدايه! دا نجلۍ څومره ښکلې ده!؟»

دوی نجلۍ پرېښوده چې خپل خوب وکړي.



اووم خنډی شپه مهال له هر يو سره يو يو ساعت ويده شو چې په همدې ډول شپه پرې سبا شوه. کله چې سهار شو نو واورينې اوو خنډيانو ته خپله ټوله کيسه وکړه. په دې نجلۍ باندې د خنډيانو زړه وسوزېد او ورته يې وويل: «که چېرې ته دلته زموږ په کور کې ټول کارونه مخته وړې نو دلته پاتې کېدی شې.» خو موږ د ورځې له خوا د غره په کان کې کار کوو او ته به دلته يوازې پاتې کېږې. نو ته بايد له ملکې څخه خپل ځان خوندي وساتې او هېڅوک خپل کور ته د ننه پرې نږدې.»

ښکاري ته د واورینې د ورکولو څخه یو څه وخت وروسته ملکې بیا له هېنداري څخه د ښایست په هکله پوښته وکړه، نو هېنداري ورته وویل: «مېرمن ملکې! ته په دې هېواد کې ښکلې یې خو واورینه چې د اووه غرونو شا ته له اووه ځنډیانو سره اوسېږي، له تا څخه زر ځلې ښکلې ده.»
کله چې ملکې له جادویي هینداري څخه دا خبره واورېده، ډېره ووېرېدله او پوه شوه چې واورینه ژوندۍ ده او ښکاري غولولې ده. ملکه شپه او ورځ د دې نجلۍ په فکر کې وه چې څنګه دا نجلۍ له منځه یوسي او د دنیا په ښکلو کې لومړۍ ځای خپل کړي. بالآخره ملکې خپل ځان د یوې زړې بنجارې غوندې جوړ کړ، د خنډیانو کور ته ورغله او نارې یې وهلې: «ښکلي شیان مې راوړي.»
واورینې له کړکۍ څخه بهر وکتل او بنجاره والا ته یې وویل: «بنجاره تروري! څه شی دې راوړي دي؟»
بنجاره والا ورته وویل: «د نجونو لپاره ښکلې نرۍ غاړکۍ (پټۍ) مې راوړې دي.» زړې بوډۍ دا خبره وکړه او له خپلې خورجینې څخه یې یوه ډېره ښکلې پټۍ راوویسته. په دې توګه بنجاره بوډۍ سمدلاسه پټۍ د واورینې په غاړه کې دومره کلک وتړله، چې واورینې نور ساه نه شوه ویستلی او بې‌هوشه پرېوته.
کله چې خنډیان کور ته راغلل زښت ډېر و وېرېدل، خو ډېر ژر یې پټۍ ولیده او هغه یې په قیچي باندې پرې کړه، چې له دې سره واورینې بېرته ساه واخیستله او روغه شوه.
خنډیانو واورینې ته وویل: «دا ظالمه هرومرو ملکه وه، دې غوښتل چې تا ووژني، هو ته باید وروسته له دې له ځان سره ډېر احتیاط وکړې.»
کله چې ملکه بیا خپلې جادویي هېنداري ته ودرېده او د ښایست په هکله یې پوښتنه ترې وکړه، نو هېنداري داسې ورته وویل: «مېرمن ملکې! په دې هېواد کې ته ښکلې یې، خو د اوو غرو شاته واورینه چې له  اوو خنډیانو سره اوسېږي، له تا څخه زر ځلې ښکلې ده.» د دې خبرې په اورېدو ملکې خپله آرامتیا له لاسه ورکړه او شپه او ورځ به ناآرامه وه. دا ځل

ملکې بل ډول جامې واغوستې او یوه ړمنځ یې په زهرو باندې ولړله او د خنډیانو هغه کور ته ورغله چې واورینه پکې اوسېده او هغې ته ښکلې ړمنځ و ښوده چې خپل وېښتان پرې ړمنځ کړي. دا چې ړمنځ ډېره ښکلې وه د واورینې خوښه شوه او له بنجارې تو ړی څخه یې واخیسته په همدې وخت کې بنجارې ورته وویل: «راشه چې زه دې سر ړمنځ کړم.» کله یې چې ړمنځ د واورینې په سر کې وټومبله، له دې سره سم نجلۍ بې‌هوشه و لوېده.

له نېکه‌مرغه خنډیان دا ځل په ښه وخت کور ته راغلل، دوی چې د واورینې په سر کې دغه ړمنځ ولیده ډېر ژر یې د هغې له سر څخه بېرته وویسته او نجلۍ په هوش راغله. په همدې ورځ ملکه هېندارې ته ودرېده او ویې ویل: «هېنداری، هېنداری په دېوال کې په دې هېواد کې څوک ډېره ښکلې ده؟» هېندارې په ځواب کې وویل: «مېرمن ملکې، په ټول هېواد کې له تا نه بله ښکلې نه شته خو واورینه چې د اوو غرونو شا ته له اوو خنډیانو سره اوسېږي له تا څخه زر ځلې ښکلې ده.»

د همدې خبرې په اورېدو سره د ملکې په ټول بدن کې د کرکې د اور لمبې پورته شوې او له ځان سره یې بیا د واورینې د وژلو خطرناک پلان جوړ کړ.

ملکې په درېیم ځل له ځان څخه یوه باغوانه جوړه کړه، یوه داسې مڼه یې را واخیستله، چې یوه برخه یې سره او بله برخه یې شنه وه. د مڼې سره برخه یې په زهرو ولړله او له خپل پلان سره یو ځای په منډه د خنډیانو کور ته ورغله.

په همدې وخت کې واورینې له کړکۍ څخه سر را وویست او داسې یې و ویل: «زه چاته اجازه نه ورکوم او نه هم دا اجازه لرم چې څوک د کور د ننه راپرېږدم. زه خنډیانو له دې کار څخه منع کړې یم.» باغوانې ورته وویل: «زه غواړم چې یوازې یوه مڼه درته ډالۍ کړم.» واورینې وویل: «نه، زه سوغات هم نه غواړم.» باغوانې واورینې ته وویل: «ښه نو بیا زما سره دغه ښکلې مڼه ده، نیمایي شنه برخه یې زما او نیمایي سره او پخه برخه به یې تا ته درکړم.»



بالآخره واورينې نيمايي منه ترې واخيسته. کله يې چې يو کپ ترې وکړ، ځای په ځمکه بې‌هوشه شوه او ولوېده.

له دې پېښې څخه وروسته چې ملکه هېنداري ته ودرېده، نو هېنداري داسې وويل: «مېرمن ملکې! په ټول هېواد کې له تاسو څخه بله ښکلې مېرمن نشته.» د دې خبرې په اورېدو سره ملکه ډېره خوشحاله شوه او فکر يې وکړ چې واورينه نوره په دې نړۍ کې نشته.



دا ځل د واورينې په هوش راوستلو کې د خنډيانو خواري بېځايه وه، دوی هم فکر کاوه چې واورينه مړه شوه. له همدې کبله خنډيانو درې ورځې ژړل او ماتم يې جوړ کړی وو.

خندېيانو غوښتل چې واورينه خښه کړي خو دا لا هم دومره تازه ښکارېده لکه يو ژوندی انسان او ګلابي اننګي يې ډېر ښايسته ښکارېدل. له همدې کبله دوی له ښيښې څخه تابوت جوړ کړ، د واورينې جسد يې پکې کېښود او په سر يې وليکل: «واورينه، د پاچا لور.»



خنډیانو د واورینې جسد په تابوت کې داسې ایښی وو چې له هرې خوا څخه ښکارېده او ډېر ښایسته وو. هره ورځ به یو خنډی د تابوت د ساتلو لپاره په کور کې پاتې کېده او د تابوت څوکیداري به یې کوله.

څه وخت چې تېر شو، واورینه په تابوت کې داسې پرته وه لکه ویده چې وي. لا هم د سپینې واورې غوندې وه، شونډې یې د وینو غوندې سرې وې او وېښتان یې د کړکۍ د روغني رنګ په څېر تک تور وو.

یوه ورځ یو ځوان شهزاده د خنډیانو کور ته راغی او غوښتل یې چې د دوی کره شپه وکړي. د دې شهزاده سترګې په ښیښه‌یي تابوت کې د واورینې په زړه وړونکي جسد ولګېدلې، چې د دې په سر باندې خنډیانو اووه څراغونه روښانه کړي وو. شهزاده واورینې ته دومره



ځیر وو چې د هغې په ښکلا هېڅ نه مړېده. له همدې کبله شهزاده وغوښتل چې خنډیان دغه تابوت په شهزاده و پلوري. خو خنډیانو نه غوښتل چې دا تابوت د نړۍ په ټولو سرو او سپینو زرو وپلوري.

شهزاده بیا غوښتنه وکړه او ویې ویل: «هیله کوم چې دغه تابوت ما ته ډالۍ کړئ، که نه نو زه له دې پرته ژوند نه شم کولای، چې واورینه ونه وینم.»

د خنډیانو زړه پرې وسوزېد او تابوت یې د واورینې د جسد سره شهزاده ته ډالۍ

کړ. کله چې د شهزاده خدمتګارانو تابوت پورته کړ، د يو خدمتګار پښه بنده شوه او ولوېد. په دې ساعت کې د واورينې له ستوني څخه د منې پوټۍ بهر ولوېد، واورينه راپورته شوه او سترګې يې خلاصې کړې.



واورينې په حيرانتيا سره وويل: «زه چېرته يم؟» شهزاده په ډېرې خوښۍ سره ځواب ورکړ: «ته له ما سره يې.» هغه څه چې تېر شوي وو، شهزاده واورينې ته ټکي په ټکي کيسه وکړه. شهزاده زياته کړه: «ته مې له ټولې نړۍ څخه ډېره خوښېږې. له ما سره زما ماڼۍ ته لاړه شه.» واورينې چې شهزاده ته وکتل د دې هم د زړه له تله خوښ شو. په نږدې وخت کې د دواړو د واده مراسم ونيول شول او بې رحمه ملکې ته هم بلنه ورکړل شوه چې دغه واده ته ورشي. کله چې ملکه واده ته راغله او په واورينه يې سترګې ولګېدې ځای په ځای مړه شوه.



# ایرنه نجلی



په پخوا زمانو کې یو شتمن سړی و، ډېر کلونه یې له خپلې مېرمن سره په خوشحالۍ ژوند کاوه. دوی دواړو یوازې یوه لور درلوده. یوه ورځ د دې شتمن سړي ښځه ناروغه شوه. کله چې دا ښځه پوه شوه، چې نور نو له نړۍ نه کډه باروي، خپلې لور ته یې غږ کړ او ورته یې وویل: «ګرانې لورې، زه باید تا یوازې پرېږدم. په دې چې اروا مې آسماني کېږي. نو کله چې زه پورته په آسمان کې یم، زه به دې له هغه ځایه ګورم. ته زما په قبر باندې یو نیالګی کېنوه، کله چې تا کومه هیله لرله، بیا به هغه نیالګی وښوروې او ته به خپل مقصد به تر لاسه کړې. خو دا په هغه صورت کې امکان لري، چې ته باید دینداره او هوښیاره اوسې.» له دې خبرو وروسته د نجلۍ مور مړه شوه او نجلۍ به تل په خپلې مور پسې ژړل او ډېره خپه به وه.



کله چې ژمی تېر شو، شتمن سړي بل واده وکړ. دویمې مېرمنې یې له ځان سره دوه لوڼې هم راوستلې وې، خو دا دوې نجونې ډېرې کبرجنې، بې رحمه او ظالمې وې. کله چې دوی کور ته راغلې، نو د دې نجلۍ لپاره غمجن وخت پیل شو.

یوه ورځ یې میرې ورغږ کړ: «ته باید پخلنځي ته لاړه شې، که غواړې چې ډوډۍ وخورې، نو باید کار وکړې او له دې شخه وروسته ته زموږ خدمتگاره یې.» میرنیو خویندو یې د دې نجلۍ ښکلې جامې ورڅخه واخیستلې، دې ته یې د کار جامې ورکړې او پخلنځي ته یې بوتله.

نجلۍ خوارکۍ به کرۍ ورځ په پخلنځي کې کار کاوه. کله به چې ماښام ستومانه شوه، اجازه یې نه درلوده چې په کټ باندې خوب وکړي، بلکې دا باید د نغري خوا ته په ایرو باندې ویده شوې وای. دا چې نجلۍ به تل ناولې وه، نو میرنیو خویندو یې ایرنه نوم پرې کېښود.

کله یې چې پلار سفر ته روان ، نو له ایرنې او دوو نورو نجونو څخه یې وپوښتل، چې څه شی ورته راوړي. ایرنې وویل: «ما ته د قندق ونې یوه څانگه راوړه چې د خپلې مور په قبر یې کېښوم.»



کله یې چې پلار له سفر راستون شو او د قندق ونې څانګه یې ورته راوړه، ایرنې څانګه د خپلې مور په قبر کېښوله. دا چې ایرنې د دغې څانګې ډېره پالنه کوله، نو په لږ وخت کې له څانګې څخه یو ښکلی نیالګی جوړ شو.

نجلۍ په کور کې د خندا لپاره هېڅ شی نه لرل بلکي ایرنې خوراکۍ به ټوله ورځ د کور کارونه کول او کله به چې شپه شوه نو میرنیو خویندو به یې ملنډې هم پرې وهلې او یا به یې نخود او نسک په ایرو کې ورته ګډ کړل او له دې څخه به یې وغوښتل چې نسک له ایرو نه بېل کړي.

څه وخت وروسته د وخت پاچا وغوښتل چې درې ورځې د ګډا مراسم ونیسي او خپل زوی ته په راغلیو پېغلو کې یوه ناوې ولټوي. له همدې کبله محفل ته د هېواد ټولې پېغلې راوبلل شوې، چې له دې جملې څخه د ایرنې دوه میرنۍ خویندې هم وربلل شوې وې.

دوی ایرنې ته ورغږ کړ: «ایرنې! راشه زموږ وېښتان ږمنځ کړه او زموږ بوټان رنګ او په بورس باندې ووهه ، چې موږ د شهزاده د ګډا محفل ته ځو.» ایرنې خوارکۍ دا کار وکړ او کله چې دوی دواړې پاکې شوې، نو ایرنې ته یې وویل: «ایرنې! ته غواړې چې د پاچا د زوی محفل لاړه شې؟» ایرنې په خوښۍ سره وویل: «هو زړه مې کېږي چې لاړه شم، خو زه جامې نه لرم.» مشرې میرنۍ خور یې غږ کړ: «نه، هېڅکله نه، موږ نه غواړو چې تا څوک ووینې، موږ په تا باندې شرمېږو، ته باید په پخلنځي کې پاتې شې. دلته یوه کاسه نسک په ایرو کې ګډ شوي، تر هغو پورې چې موږ بېرته کور ته راځو، ته باید دا ښه پاک او له ایرو نه بېل کړې او پام دې وي چې کومه خرابه دانه در څخه پکې تېره نه شي.»

ایرنه ډېره خپه شوه، چې له ایرو نه نسک بیل کړي. له ځان سره یې وویل: «اې خدایه، تر نیمې شپې پورې به زه د نسکو په ټولولو اخته وم. کاش چې زما مور په دې باندې پوهېدلی.» ایرنه د نغري خوا ته په ایرو کې په ګونډو شوه او د نسکو په پاکولو یې پیل وکړ. په دې وخت کې له باغچې څخه څو کوترې راغلې، د نغري خوا ته د نسکو تر څنګ

کېناستلې او ويې ويل: «ايرنې، مرسته موږ درسره وکړو؟» ايرنې وويل: «هو درېغی تاسو مرسته راسره وکړېخراب نسک په ټوکرۍ او ښه يې په دېگچه کې واچوئ.»



کوترو په ټک ټک، ټک ټک شروع وکړه. په څو دقیقو کې یې ټول خراب نسک وخوړل او ایرنې ښه نسک په دېګچه کې واچول. له دې څخه وروسته کوترو ایرنې ته وویل: « آیا غواړې چې خپلې میرنۍ خویندې له شهزاده سره په ګډا وګورې؟ که غواړې نو د کوترو د کوټنۍ (کفترخانې) سر ته وخېژه او ننداره یې کړه.»

ایرنې هم همداسې وکړل، خپلې میرنۍ خویندې،شهزاده او په زرګونو کسان او ګڼ شمېر رڼاګانې یې ولیدلې چې د نڅا په محفل کې پړقېدلې او ځلېدلې.

کله یې چې ښه ننداره وکړه، بېرته راښکته شوه او زړه یې درزېده نوپه ایرو کې څملاستله او ویده شوه.

څنګه چې شپه سهار شوه او د ایرنې میرنیو خویندو ولیدل، چې نسک پاک او په دېګچه کې اچول شوي دي، دوی ډېرې خپه شوې. ځکه دوی ته کومه پلمه ور پاتې نه وه چې ایرنه پرې وکنځي (یعنې بدې ردې او سپکې او سپورې ورته ووایي او ویې ځوروي)

دا چې ایرنه خپلې میرنۍ خویندې نورې هم له حسده ډکې کړي، د نڅا د محفل په کیسو یې شروع وکړه. ایرنې وویل: «هو، ما د کوترو د کوټنۍ له بام څخه ټوله ننداره وکړه. رښتیا چې دا ډېر ښکلی محفل و.» کله چې د ایرنې مشرې میرنۍ خور دا خبره واورېده، نو لاړه د کوترو کوټنۍ بام یې خراب او کوټنۍ یې ویجاړه کړه بیا یې په چیغو، چیغو وویل: «ته هېڅ اجازه نه لرې چې له پخلنځي څخه بهر ووزې ، ته یوازې خپل کار کوه او بس.»

د دې ورځې په ماښام ایرنې بیا خپلې میرنۍ خویندې جوړې کړې او خویندو یې د دې په بدل کې بیا یوه بوجۍ موټ (د څارویو خوراک، شاخل) په ایرو کې وشیندل او ایرنې ته یې وویل چې دا باید تر سبا سهاره پورې له ایرو څخه بېل شي.

کله چې دوی د اتڼ محفل ته لاړې نو په دې وخت کې بیا له باغچې څخه کوترې راغلې او د نغري خوا ته په موټ باندې کېناستلې.سرونه یې وخوځول او پوښتنه یې وکړه: «ایرنې! آیا موږ مرسته درسره وکړو؟»

ایرنې وویل: «هو، مرسته راسره وکړئ، خراب  موټ په ټوکرکۍ او ښه یې په دېګچه کې واچوئ.» له همدې سره کوترو په څو دقیقو کې ټول موټ پاک کړل او ایرنې په دېګچه کې واچول.



کوترو ایرنې ته وویل: «که ته هم د نڅا محفل ته تلل غواړې، نو د خپلې مور قبر ته لاړه شه، هغه نیالګی وخوځوه چې پرې شین دی او د ښکلو جامو غوښتنه ترې وکړه. خو پام دې وي چې له نیمې شپې ځخه مخکې باید به بېرته کور ته را وګرځې .»

له همدې سره سم ایرنه لاړه، د مور د قبر نیالګی یې وخوځاوه او ویې ویل: «ونې وربېږه او ورژېږه، ما ته ښکلې جامې راوغورځوه.»

څنګه یې چې دا خبره وکړه، هماغه وو چې ډېرې ښکلې سلورینې جامې، ښکلي بوټان او ګاڼې یې په مخ کې ولوېدې. ایرنې جامې واخیستې او کور ته لاړه. کله یې چې ځان پرېمینځه او جامې یې واغوستلې نو داسې ښکلې ښکارېده لکه په ګلاب باندې چې پرخه پرته وي.

په همدې وخت کې د کور د دروازې مخې ته په شپږو آسونو پسې یوه تړل شوې ګاډۍ ولاړه وه او خدمتګارانو یې هم شنې او سلورینې جامې اغوستې وې. دوی ایرنه په ګاډۍ کې کېنوله او په ګډه د پاچا ماڼۍ ته لاړل.

شهزاده چې کله د ایرنې عجیبه ګاډۍ ولیده نو فکر یې وکړ چې ښایي کومه پردۍ شهزادګۍ راغلې وي. له همدې سره شهزاده خپله په زینو کې ورښکته شو، ګاډۍ ته ورغی، ایرنه یې په ډېر عزت او وقار راښکته کړه او له ځان سره یې د نڅا صالون ته بوتله.

د ایرنې ښکلا ته ټول محفل حیران وو او میرنیو خویندو یې ایرنه ونه پېژندله. په دې شپه شهزاده یوازې له همدغې نجلۍ سره نڅا کوله او له ځان سره یې فکر وکړ: «زه چې ځان ته کومه ناوې لټوم، نو له دې نجلۍ ځخه به بله ښکلې پیدا نه کړم. بس همدا به زما مېرمن وي.»

ایرنې چې ډېر وخت په خپګان کې تېر کړی و، نو دا شپه ورته د ځانګړې خوشحالۍ او شان او شوکت شپه وه.



کله چې نیمه شپه شوه، نجلۍ له شهزاده سره مخه ښه وکړه. له بلې خوا د ماڼۍ مخې ته گاډۍ تیاره ولاړه وه او ایرنه یې بېرته خپل کور ته ورسوله.

له دې سره سم ایرنه یو ځل بیا د خپلې مور د قبر د سر نیالگي ته و درېده او ورته ویې ویل: «نیالگیه، ورپېږه او ورژېږه، له ما څخه دا جامې بېرته واخله.»

نیالگي سلوري جامې ترې واخیستې او ایرنې بېرته له ایرو څخه ډکې جامې واغوستلې.



کله چې ایرنه خپل کور ته لاړه نو په خپل مخ یې یوه اندازه ایرې و موښلې او په ایرو کې پرېوته.

د همدې شپې په سبا د ایرنې میرنۍ خویندې راغلې خو په دې ورځ ډېرې بدمزاجه او خپه ښکارېدې. ایرنې پوښتنه ترې وکړه: « مو پرون شپه ډېر ساعت تېر شوی دی څنګه، همداسې نه ده؟»

میرنیو خویندو یې ځواب ورکړ: «نه، هلته یوه پردۍ شهزادګۍ راغلې وه ټول محفل د هغې په ننداره بوخت وو او شهزاده ټوله شپه یوازې له هغې سره نڅا وکړه.»



ایرنې وپوښتل: «کېدای شي هماغه ښکلې نجلۍ به وهکله چې شپږو تورو آسونو ګاډۍ په ځان پسې کشوله، زه د دروازې مخې ته ولاړه وم او ما هم ولیده.» مشرې خور یې وویل: «ته باید له دې وروسته یوازې په خپل کار بوخته اوسې.»

په دریم ماښام هم ایرنې خپلې میرنۍ خویندې پاکې او سمبال کړې او یو ځل بیا د نڅا محفل ته لاړې. هغوی ایرنې ته یوه کاسه نخود په ایرو کې واچول او ویې ویل: «دا یې باید پاک کړې.» په دې ماښام یو ځل بیا له باغچې څو کوترې راغلې او له ایرنې څخه یې پوښتنه وکړه: «ایرنې، غواړې چې مور دا نخود درته پاک کړو؟» ایرنې وویل: «هو، کاشکې، خراب یې په ټوکرکۍ او ښه یې په دیګچه‌ګۍ کې واچوئ.» کوترو دا کار سر ته ورساوه او بیا یې وویل: «ایرنې، دا ځل د مور د قبر سر ته دې لاړه شه او نیالګی وخوځوه چې ښکلې جامې درکړي او بیا د نڅا محفل ته لاړه شې. خو ډېر پام کوه چې له نیمې شپې څخه مخکې خپل کور ته باید راستنه شې.»

ایرنه د مور قبر ته لاړه او غږ یې وکړ: «نیالګیه، وخوځېږه او ورپېږه، ما ته ښکلې جامې راوغورځوه.» له دې غوښتنې سره سم یې ښکلې طلایي جامې د ایرنې مخې ته وغورځېدې. کله چې ایرنې جامې واغوستلې نو داسې وځلېده لکه لمر چې په غرمه کې ځلېږي. له همدې سره سم یوه شاهي ګاډۍ له شپږو نیلۍ ـ سپینو آ آسونو سره یو ځای د دروازې مخې ته ولاړه وه او نجلۍ یې سیده شاهي ماڼۍ ته ورسوله.

شهزاده د زینې په سر نجلۍ ته ښه راغلاست ووایه او دا یې د نڅا صالون ته د ځانګړو تشریفاتو سره یو ځای بوتله. بیا هم د اتڼ د محفل ټول ګډونوال د دې نجلۍ ښکلا ته حیران وو. له دې سره سم د ایرنې میرنۍ خویندې له حسد څخه تکې زېړې شوې. شهزاده ټوله شپه له ایرنې سره ونځېد. په همدې وخت کې د ایرنې پام د نیمې شپې زنګ ته شو او د کوترو خبرې ور یادې شوې، ایرنې په بیړنۍ توګه په زینو کې منډه کړه. شهزاده د دې لپاره د زینو پر مخ قیر وهلی وو چې محفل ته راغلې پردۍ شهزادګۍ ګړندۍ منډه و نه کړي څو له شهزاده سره تر سهاره پاتې شي.



خو ایرنې منډه پیل کړه او له دې سره یې په زینه کې یو طلایي بوټ ونښت، د ایرنې له پښې څخه ووت او په زینه کې  بند پاتې شو. ایرنې د بوټ پروا و نه کړه، په تېښته بریالۍ شوه او لاړه. شهزاده  له ایرنې څخه پاتې شوی  بوټ واخیست او له ځان سره یې حصار کړ.
ایرنې د نیمې شپې له زنګ سره وکولای شول، چې کور ته له رسېدو سره سم بېرته خپلې له ایرو ککړې جامې واغوندي. ګاډۍ او آسونه هم ورک شول،  او نجلۍ  په ایرو کې ځملاسته.
بله ورځ شهزاده اعلان وکړ چې یوازې هغه څوک د ده مېرمن  او  ناوې کېدی شي چې دغه بوټ یې په پښه کې جوړ راشي، خو  نوموړی بوټ د د کتلو په وخت کې د ټولو نجونو په پښو  کوچنی و.



په دې ښار کې په ټولو کورونو کې د موجودو پېغلو د پښو اندازه واخیستل شوه  له ټولو  څخه  وروستی کور  د  ایرنې  د  پلار  و،  چې   باید  په  هغه  کې  د موجودو  پېغلو  د  پښو  اندازه  واخیستل  شي  نو  له همدې سره سم شهزاده  د دوی کور ته هم  ورغی.
کله  چې  شهزاده  د  دوی  کور  ته  ورغی  نو  د  ایرنې دواړ میرنۍ خویندې ډېرې خوشحاله وې، ځکه چې دوی  کوچنۍ  پښې  یې   درلودې  .  دوی  فکر  کاوه  چې  حتماً  دا  بوټ  د  دوی  په  پښو  کې راځي. لومړی یې مشره خور کوټې ته لاړه او بوټ یې امتحان کړ.
دا چې پونده یې په بوټ کې نه ننوتله، نو په چاړه باندې د پوندې یو پوټی[1]غوڅ کړ او پښه یې په زوره په بوټ کې ننویستله. شهزاده ګمان وکړ چې همدا یې ورکه ناوې ده نو په آس

---

[1] - ټوټه، مړی، د یو شي کوچنۍ برخه

کېنوله او روان شو. کله چې دوی له دروازې څخه تېرېدل ، د دروازې په سر ناستو کسانو داسې وویل:: «غور غوراکی، وینه په بوټ کې، بوټ دی وړوکی او اصلي ناوې په کور کې ده.» شهزاده چې بوټ ته وکتل، گوري چې په بوټ کې وینه ده، نو پوه شو چې دا یې ناوې نه ده، له همدې سره سم یې نجلۍ بېره خپل کور ته ستنه کړه. دا ځل یې دویمې خور بوټ امتحان کړ. دا چې بوټ یې په ښه کې وړوکی و، نو د پښې د غټې گوتې یو پوټی یې پرې کړ او بوټ یې په زوره په پښه کې د ننه کړ. شهزاده بیا گمان وکړ، چې ښایي دا ریښتنې ناوې وي او له ځان سره یې په آس باندې سپره کړه. کله چې دروازې ته ورسېدل نو د دروازې د پاسه ناستو کوترو داسې وویل: «غور غوراکی، وینه په بوټ کې، بوټ دی کوچنی او اصلي ناوې په کور کې ده.» شهزاده پوه شو، چې بیا غولول شوی دی او اصلي ناوې لا هم ورکه ده. له دې سره جوخت یې دا نجلۍ هم بېرته خپل کورته ستنه کړه او د دوی له مور څخه یې پوښتنه وکړه: «آیا تاسې کومه بله لور هم لرئ؟»
د ایرنې مېرې ځواب ورکړ: «هو، مور یوه چټله ایرنه لرو.» شهزاده وغوښتل چې ایرنه هم راشي او دا بوټ په خپله پښه امتحان کړي.



ایرنې ژر خپل مخ او لاسونه پرېمینځل او شهزاده ته په ډېر احترام ټیټه شوه او ښه راغلاست یې ورته  ووایه .
ایرنې خپلې درنې څپلۍ وویستې او خپله پښه یې په بوټ کې په آسانۍ سره  د ننه کړه. بوټ یې په پښه کې داسې برابر و لکه په قالب چې ورته جوړ شوی وي.
شهزاده چې دا منظره ولیده او ځانګړې  پاملرنه  یې ورته وکړه، ویې پېژندله چې دا نجلۍ یې هماغه د نڅا ملګرې ده او غږ یې وکړ: «همدا مې اصلي ناوې ده.» هغې ایرنه په اس کېنوله او له ځان سره یې شاهي ماڼۍ بوتله. کله چې هغوی د نیالګي له څنګه تېرېدل، نو کوترو په ځانګړو ازانګو سره داسې غږ پرې وکړ: «غور غوراکی، هېڅ کومه وینه په بوټ کې نشته، بوټ دی برابر، اصلي ناوې روانه ده خپل کور ته.»



# لېوه او د وزې اووه کوچني بچي



په پخوا زمانو کې یوه وزه وه چې اووه بچي یې  درلودل . په وزې باندې خپل بچیان ډېر ګران وو او له لېوه  څخه  به یې کلکه توګه ساتل.

یوه ورځ وزې غوښتل چې ځنګل ته لاړه شي او خپلو بچیانو ته واښه راوړي. هغې خپلو ټولو بچیانو ته غږ کړ او  داسې یې ورته وویل: «ګرانو بچیانو ، زه باید لاړه شم او تاسو ته واښه راوړم. تاسو به په ځان  ډېر پام کوئ، چې لېوه زموږ کور ته دننه رانه شي. دې ظالم حیوان ته  به ډېر پام کوئ ځکه چې لېوه هر وخت ځان بدلوي او هڅه کوي چې نورو ته فرېب ورکړي.  تاسو لېوه له  زیږ  یا ډډ غږ او تورو پښو  څخه په ښه توګه  پېژندلی شئ. هغه دننه مه راپرېږدئ، که نه نو تاسې ټول به یو په بل پسې وخوري.» خپلو بچیانو ته له دې ډول خبرداري او نصیحت څخه وروسته وزه په وښو پسې ځنګل ته لاړه.





لېوه د وزې دکور خوا ته په ژوره توګه  ځار کاه اوسخت ځير وو. په همدې وخت کې وزه لا ځنګل ته نه وه رسېدلې چې لېوه  يې د کور دروازې ته  ځان ورساوه.





لېوه دروازه وټکوله او غږ يې وکړ: «ګرانو بچو، دروازه خلاصه کړئ. زه ستاسو مور يم، ما تاسو ټولو ته له ځان سره ښکلي شيان راوړي دي.»

د وزې بچو وویل: «نه، ته خو زموږ مور نه یې. زموږ د مور غږ نری دی او ستا غږ زیږ او ډېر دی. ته ظالم لېوه یې، موږ تا ته دروازه نه پرانیزو.»

لېوه سمدلاسه یو تباشیر پلورونکي ته ورغی او یو غټ تباشیر یې واخیست او ویې خوړ، چې له دې سره یې غږ نری شو. له دې نه وروسته بیا د وزې کور ته ولاړ، دروازه یې وټکوله او غږ یې وکړ: «گرانو بچو، ما پرېږدئ چې د ننه درشم. زه ستاسو مور یم او ما تاسو هر یوه ته یو ښه ځیز راوړی دی .» خو په همدې وخت کې د لېوه پښه په کړکۍ کې ښکاره شوه او د وزې بچو ولید د دوی مور (وزه) نه بلکي خطرناک لېوه دی نو ورته ویې ویل: «نه، ته خو زموږ مور نه یې، زموږ مور تا غوندې تورې پښې نه لري ته خو لېوه یې، موږ تا ته دروازه نه پرانیزو.»

له همدې سره سمدلاسه یوه نانبای ته ورغی او ورته ویې ویل: «گرانه نانبایه! زما په پښې باندې تازه خمیره وتپه.» نانبای هم له وېرې دا کار وکړ. له دې ځخه وروسته ژرندگړي ته لاړ او امر یې وکړ: «ژرنده‌گړیه! زما په پښو باندې میده سپین اوړه وشینده.» ژرنده‌گړی پوه شو چې لېوه د کوم غلط کار په اجرا کولو پسې متې رانغښتې دي ، نو ځکه یې خبره ورته ونه منله. خو لېوه ژرندگړي ته گواښ وکړ: «که ته دا کار ونه کړې نو زه به دې هرو مرو وخورم.»

د دې لپاره چې ژرندگړی خپل ژوند وژغوري، نو ځه چې لېوه غوښتل هغسې یې وکړل.

لېوه دریم ځل بیا د وزې کور ته لاړ، دروازه یې وټکوله او په بدل شوي غږ یې وویل: «گرانو بچو، ما پرېږدئ چې دننه شم، زه ستاسو مور یم، ما تاسو هر یو ته ښکلي او خواږه شیان راوړي دي.»

د وزې بچو غږ کړ: «لومړی موږ ته خپله پښه وښیه، چې موږ پوه شو چې ته رښتیا زموږ گرانه مور یې.»

لېوه په کړکۍ کې خپله پښه کېښوده او د وزې بچو ولید، چې دا د واورې غونډې سپین رنګ لري .
نو دا چې په نري غږ یې خبرې وکړې یقین یې راغی، چې رښتیا هم د دوی مور ګواکې د دوی د کور دروازې ته راغلې ده.



هغوی دروازه ورته خلاصه کړه. خو ګوري چې کور ته لېوه رادننه شو. کله چې دوی پوه شول چې دا خو ددوی مور نه بلکې لېوه دی، نو د وزې مظلوم بچیان سخت ووېرېدل.



په همدې وخت کې د وزې کوچنې بچیان له ډېرې وېرې له یو بل څخه بېل شول او څومره یې چې کولای شول، ځانونه یې پټ کړل.

لومړی سېرلی  تر مېز لاندې پټ شو، دويم په کټ کې، دريم په بخارۍ کې، څلورم تر قالينې لاندې، پينځم په صندوق کې ننوت، شپږم تر لويې کاسې لاندې شو او اووم په دېوالي ساعت کې  ځان غلی کړ.

لېوه د وزې نور بچيان يو په يو پيدا کړل او  هر يو يې ژوند  ګړوت کړ، خو يوازې د وزې وړه بچۍ چې په دېوالي ساعت کې پټه شوې وه، هغه يې پيدا نه کړای شوه.




کله چې لېوه ښه موړ شو، نو له کور څخه

ووت او بهر په چمن کې تر يوې ونې لاندې پرېوت او سمدلاسه ويده شو.

کله چې وزه کور ته راغله، ګوري چې د کور دروازه بېخي  پرانيستې ده. په کور کې مېز، چوکۍ او اوږده چوکۍ ټول چپه  شوي، غټه کاسه مېده مېده  ده، د کټ بړستنې او بالښتونه ټول راغورځېدلي  دي. همدارنګه ګوري چې په کور کې  د غمجن  فرياد ازانګې خورې او هر څه ګډوډ دي. وزه وارخطا شوه او له ځان سره يې وويل: «حتماً لېوه زما بچي خوړلي دا کار د بل چا نه دی.» له دې سره جوخت وزې د  د هر بچي نوم په بېلا بېله توګه او ژړغونې بڼه واخيستل. خو هېچا ځواب ور نه‌کړ. کله يې چې د

کشرې لور نوم واخیست، نو په ځواب کې یې له دېوالي ساعت څخه په رپېدلي او ژړغوني آواز یو غږ واورېد. او ویې ویل: «ګرانې مورې، زه په دېوالي ساعت کې پټه شوې یم.»
وزې دېوالي ساعت خلاص کړ او خپله بچۍ یې ترې راوویسته. بچۍ یې ټوله کیسه ټکي په ټکي وکړه، چې څه پېښ شوي او د خطرناک لېوه د لاسه د وزې د بچیانو برخلیک څه شو.



د وزې بچی وویل: « ظالم لېوه په چل او ول خپل ځان بدل کړی و، حتا خپله پښه یې هم په سپینو اړو رنګ کړې وه. نو ځکه موږ په دې ګمان چې خپله مور مو ده، لېوه ته مو دروازه خلاصه کړه. له دې سره جوخت ظالم لېوه‌ټول له پوستکي او وېښتانو سره یو ځای تېر کړل.»

وزې د خپلو بچیانو د غم لړلي حالت په لیدو سره ډېر فریاد او ژړاګانې وکړې . بیا سمدلاسه له همدې اندېښنې او کړاو سره له کور څخه بهر ته ووتله او بچی یې هم ورپسې وه. کله چې د خپل کور سره څېرمه چمن ته ورسېده ویې ولیدل چې لېوه تر یوې ونې لاندې په درانه خوب ویده پروت دی.



لېوه په داسې لوړ آواز خوریده، چې د ونې ځانګې هم ورسره رپېدلې. وزه په احتیاط سره د لېوه څنګه ته ورغله. ورو ورو ورنژدې شوه او ویې لیدل چې په غټه خېټه کې یې یو شی

خوځېږي او هاخوا او دېخوا لاس و پښې وهي. وزې له ځان سره فکر وکړ: «دې ظالم چې د غرمې ډوډۍ په توګه زما بچي خوړلي، کېدای شي ټول ژوندي وي له همدې کبلهوزې خپلې بچې ته وویل: « ژر کور په منډه لاړه شه، یوه قیچي، ستن او تار درسره راوړه.»

وزې خپلې بچې ته دا خبره هم وکړه: «مور هڅه کوو چې ستا ورونه او خویندې وژغورو.»

کله چې د وزې بچۍ بېرته راغله، مور یې قیچي واخیستله او د لېوه د خېټې په بیاتي کولو یې پیل وکړ. کله چې وزې یو خرپ ځینې پورته کړ چې د یو بچي سر یې رابښکاره شو. کله چې د لېوه د خیټې قیچي کول خلاص شول، نو د دې خطرناک لېوه له خېټې څخه د وزې ټول بچیان یو په یو ژوندي، روغ او جوړ راووتل. په دې کار سره د وزې بچیان خوشحاله شول او خپله مور یې کلکه په غېږه کې ونیوه.

مور یې ورته وویل: «بچیانو! اوس منډې کړئ او لاړ شئ. غټې غټې ډبرې راوړئ، تر څو پورې چې لېوه ویده دی، خېټه به یې له ډبرو نه ورته ډکه کړو.»

څومره ژر چې کېده، بچیانو یې غټې غټې ډبرې راوړې او مور یې د لېوه په خېټه کې واچولې. بیا یې له هغه څخه وروسته په بېړه د لېوه خېټه وګنډله او ټولد یوې ونې شا ته پټ شول څو د لېوه وروستۍ ننداره وکړي.

کله چې لېوه خپل خوب پوره کړ ډېر دروند پاڅېده. دا چې هغه ډېره تږی و، نو منډه یې کړه او د څاه ته غاړې ته ولاړ چې اوبه وڅښي.

کله یې چې لومړی ګام واخیست واخیست، نو په خېټه کې یې ډبرې له یو بل سره ولګېدې، د لېوه له خولې څخه یوه ستره کوکه بورته شوه او ویې ویل: «دا څه شی دي چې زما په خېټه کې هاخوا او دېخوا خوځېږي؟» نوموړی په دې اند وو چې د وزې شپږ بچې یې خوړلي او اوس داسې ښکاري لکه ډبرې یې چې په خېټه کې ځای پر ځای شوې دي.»



لېوه له پښو و لوېد او د سینې د ښویېدو په وسیله یې ورو ورو خپل ځان د څاه تر مورگې پورې و رساوه. کله چې یې په څاه سر کې سر ټیټ کړ، نو درندو ډبرو لېوه ښکته څاه ته ورکش کړ او د سترو چیغو په بدرگه د څاه تل ته ور ولوېد.

د وزې بچیانو منډې کړې،له مور سره یوځای یې د څاه شاوخوا ته په نڅا خوښې پیل کړه او داسې سندره یې زمزمه کوله: «لېوه مړ شو، لېوه مړ شو.»



# اغزنه گلالۍ



په پخوا زمانو کې د یو پاچا او ملکې  په کور کې  هېڅ ماشوم نه  زږېده، خو دوی غوښتل چې ماشوم ولري.  یوه ورځ هغه مهال چې ملکه په ځان مینځلو لګیا وه نو په دې وخت کې له اوبو  څخه  یو چنګاښ راووت، د ځمکې سر ته راغی او ویې ویل: «ستا هیله په نږدې وخت کې پوره  کېدونکې ده او  ستا  په کور کې به یوه لور و زیږیږي. .» چنګاښ چې څه وویل، همداسې وشول. پاچا د شهزادګۍ په زېږېدلو دومره خوشحاله و، چې  په همدې مناسبت یې یو لوی محفل ونیو.  پاچا دغه ځانګړي محفل ته داسې هوښیارې ښځې هم راوبللې، چې په دې هېواد کې یې ژوند کاوه. دا چې هوښیارې ښځې دیارلس کسانې وې او پاچا یوازې دولس د سرو زرو قابونه  دوی ته د ډالیو په توګه چمتو کړي وو، نو دیارلسمې مېرمن ته یې بلنه ور نه‌کړه.



په همدې سره دولس کسانې هوښیارې ښځې محفل ته راغلې او ګډون يې پکې وکړ. کله چې محفل په خلاصېدو شو، نو راغلیو هوښیارو ښځو هرې یوې شهزادګۍ ته خپله معجزه ډالۍ کړه. یوې ورته سپېڅلتیا ډالۍ کړه، بلې ښکلا او همدارنګه هر ښه څېز چې په دې نړۍ کې ښه و، هرې یوې ورته ډالۍ کړل. کله چې یوولسمې ښځې خپلې معجزه ډالۍ کوله، نو په ناڅاپي توګه ځل دیارلسمه ښځه، چې محفل ته نه وه رابلل شوې د محفل تالار ته د ننه شوه.



نابلل شوې ښځه ډېره په غوسه وه او غوښتل يې چې سمدلاسه خپل بدل واخلي. ځکه چې محفل ته نه وه بلل شوې او دا کار يې د خپل ځان په وړاندې سپکاوی ګاڼه.
بې له دې چې سلام واچوي او يا چا ته څه ووايي، کوټې ته راننوتله. زانګو ته ورغله او په لوړ غږ يې وويل: «دا د پاچا لور دې په پينځه‌لس کلنۍ کې په يوه څرخ زخمي او بيا مړه شي.»



خو بې له دې چې کومه خبره وکړي، نابلل شوې ښځه بېرته په بيړه د محفل له تالار څخه ووته.

پاچا، ملکه او نور مېلمانه ډېر وویرېدل. په دې ساعت کې دولسمه هوښیاره ښځه، چې لا یې نجلۍ ته خپله معجزه نه وه ډالۍ کړې، رامخته شوه. دې نه شو کولای چې د دیارلسمې ښځې ډالۍ بېخي ناچله کړي، خو اغېزه یې ورته کمولی شو. نو هغې وویل: «شهزادگۍ دې نه مړه کېږي، بلکې یوازې سل کاله دې ویده وي.»

پاچا وغوښتل چې خپله گرانه لور له دې ډول ناورین او کړاو څخه وژغوري. نو امر یې وکړ، چې له ټول هېواد څخه دې څرخونه راټول او وسوځول شي.

په دې ترتیب د پاچا لور کال په کال لویېده او په خپل وخت سره د هوښیارو ښځو له خوا نه ورکړل شوې ډالۍ په حقیقت بدلېدلې: دا نجلۍ ډېره ښکلې، با ادبه، خوښ طبعه او هوښیاره شوه او د هر سړي به خوښېده.

کله چې نوموړې پنځلس کلنه شوه، په دې ورځ سهار مهال پاچا او ملکه بهر وتلي وو او شهزادگۍ له ساتونکي څخه پرته په کور کې یوازې پاتې شوې وه.

دا نجلۍ د کنجکاوۍ په حالت کې په ټوله ماڼۍ کې وگرځېده. هغې د ماڼۍ هغه ټولې لویې او کوچنۍ کوټې ولیدې، چې دې م مهاله لا نه وې لیدلې.

بالاخره نجلۍ یوه زاړه برج ته برابره شو، په تنگو ـ تاو راتاوو زینو باندې وخته او د یوې وړې دروازې مخې ته ودرېده.

په دې ځای کې یوه زنگ وهلې کلۍ راځوړنده شوې وه. کله چې د پاچا لور را ځوړنده شوې کلۍ د لاسونو د گوتو په وسیله تاو کړه، نو یوه دروازه یې پر مخ خلاصه شوه. په دې کوچنۍ کوټه کې یوه زړه بوډۍ ناسته وه او وړۍ یې څرخ کولې. نجلۍ ورته وویل: «ورځ دې په خیر مور جانې، ته دلته څه کوې ؟»

زړې بوډۍ وویل: «زه څرخې کوم.»



نجلۍ پوښتنه وکړه: «دا له خندا ځخه ډک شی څه دی؟» او ویې غوښتل چې دا هم څرخ ورکړي. څنګه یې چې دوک ته لاس کړ، سمدلاسه د وروستۍ ښځې د معجزې خبره په حقیقت بدله شوه. څرخ یې په ګوته کې ننوت او یو دم په هغه کټ کې ولوېده، چې په دې وړه کوټه کې پرته پروت وو او په ژور خوب ویده شوه.





دا درونډ خوب ډېر ژر په ټوله ماڼۍ کې خپور شو.

کله چې پاچا او ملکه ماڼۍ ته راغلل، دوی هم په خوب ویده شول او له دې سره د ماڼۍ ټول کار کوونکي په درانه خوب ویده شول.

آسونه په غوجل کې ویده شول ، کوترې پر بامونو، ښکاري سپی په حوېلۍ کې، مچان په دېوالونو او حتی اور چې په نغري یې کې لمبې وهلې، هم مړ شو.



کباب په کړایي کې خپل جغ جغ بس کړ او آشپز خپل شاګرد خوشې کړ، هغه څوک یې چې له وېښتانو راکښ کاوه هم په خوب ویده شو.
د خدمتګارې له لاسه چرګ ولوېد چې په پاکولو چې لګیا وه، باد ودرېد او په ونو باندې هېڅ هوا نه لګېده.
د ماڼۍ شاوخوا اغزن بوټي مخ په غځېدو شول، داسې چې لویېدل او لا پسې لویېدل. دا اغزن بوټي دومره دومره لوی شول چې نور له بهر څخه شاهي ماڼۍ هېڅ نه لیدل کېده. په ټول هېواد کې به د ښکلې اغزنې ګلالۍ کیسې کېدې، چې دلته د پاچا لور وه او په داسې یو مصبیت ګرفتاره شوه.
د وخت شهزادګانو هڅه کوله چې له دغو اغزنو بوټو څخه تېر شي او اغزنه ګلالۍ له پېښ شوي مصیبت څخه ازاده کړي. خو دوی په دې کار نه برلاسي کېدل څو له دغو بوټو څخه تېر شي. ګڼ شمېر شهزاده ګان او نور ځوانان به چې د شهزادګۍ د خلاصون په موخه ماڼۍ ته نږدې ورغلل، په اغزیو کې به ونښتل، بند به شول او مړه به شول.
له ډېرو کلونو څخه وروسته په دې هېواد کې یو داسې شهزاده را پیدا شو، چې له یو تن بوډا څخه یې د همدې پېښې په اړوند کیسه واورېده چې ګواکې د دې لویو لویو اغزنو بوټو شا ته یوه شاهي ماڼۍ ولاړه ده او په دې شاهي ماڼۍ کې یوه ډېره ښکلې شهزادګۍ د ټولې ماڼۍ له کار کوونکو سره په درانه خوب ویده شوې ده. نوموړي بوډا ته د هغه نیکه کیسه کړې وه چې ډېرو شهزادګانو کوښښ وکړ، څو د ماڼۍ داخل ته ورشي، خو هغوی به دا کار ونه شو کړای او بالاخره په اغزیو کې به ونښتل او مړه به شول.
شهزاده ورته وویل: «زه له هېڅ شي څخه نه وېرېږم، زه به له دغو اغزنو بوټو څخه هرو مرو تېر شم او ښکلې اغزنه ګلالۍ به د تل لپاره آزاده او له کړاو څخه به یې خلاصه کړم.
دا نو داسې وخت وو چې په نجلۍ سل کاله تېر شوي وو او د اغزنې ګلالۍ د بېرته راویښېدو وخت را رسېدلی وو

کله چې شهزاده اغزنو بوټو ته نږدی کېده، نو ورسره سم اغزن بوټي به په ګلانو بدلېدل. دا بوټي به له يو بله بېلېدل او بې له دې چې هلک ته کوم زيان و رسوي، له اغزو به به تېر شو او له شا څخه به بېرته اغزي ورپسې بند شول.



کله چې شهزاده ماڼۍ ته ورغی، ویې ولیدل چې په غوجل کې آسونه او په حوېلۍ کې سپي ویده دي. پاس په بام باندې کوترې ناستې او سرونه یې تر وزرونو لاندې پټ کړي او وېدې دي. کله چې شهزاده کور ته ننوت نو ګوري چې مچان په دېوالونو کې ویده دي، اور په پخلنځي کې ګل شوی، اشپز او خدمتګاران ټول ویده وو. همداسې چې نور هم وړاندې لاړ ګوري چې پاچا او د ماڼۍ ټول کار کوونکي ویده دي. دلته دومره آرامي وه چې شهزاده حتی خپله ساه هم اورېدلی شوه.

بالاخره شهزاده هغې کوټې ته ورسېده چې اغزنه ګلالۍ پکې ویده وه. نجلۍ دومره ښایسته ویده وه، چې دا هلک ور ټیټ شو او پر مخ یې ښکل کړه. له ښکلولو سره سم هغه راویښه شوه. د اغزنې ګلالۍ د وېښېدو سره سم پاچا او ملکه او د شاهي ماڼۍ ټوله عمله او کارمندان هم راویښ شول.





په همدې ترتیب د شاهي ماڼۍ له غوجلې څخه آسونه را پورته شول او ځانونه یې وڅنډل. ښکاري سپیانو ټوپ کړ، کوترو د بام په سر له وزرونو لاندې څخه خپل سرونه راوویستل، شاوخوا یې وکتل او په هوا شوې. مچان د دېوال له سره والوتل او په پخلنځي کې ببرته اور ولګېد، شنه لوګي پورته شول او د کباب جغ جغ پیل وکړ. آشپز د شاګرد په ویښتانو کې منګولې خښې کړې او خدمتګارې د چرګ پاکول پیل کړل.

شهزاده د اغزنې ګلالۍ لاس نیولی و دوی دواړه په یو بل مین او کوزده یې کړې وه. بالآخره په نږدې وخت کې د واده مراسم ونیول شول. بیا نو زوم او ناوې د ژوندانه تر پایه پورې په خوښۍ سره خپل ژوند ته دوام ورکړ.



# غم غبيل



په پخوا زمانو کې یو بېوزله ژرندګړی و.  ژرندګړي یوه ډېره ښکلې لور درلوده او د ډېرو ځوانانو به خوښېده. دغه ژرندګړی یوه ورځ له پاچا سره مخ شو،هغه ته یې لاپې ووهلې او ویې ویل: «زه داسې یوه لور لرم، چې له پروړې نه په څرخ باندې سره زر جوړولی شي.»
پاچا وویل: «دا خو ډېر ښه هنر دی او زما ډېر خوښ شو. سبا خپله لور زما ماڼۍ ته راوله، چې زه ترې امتحان واخلم.»



بله ورځ ژرنده‌ګړي خپله لور  د پاچا حضور ته بوتله او پاچا سیده هغې کوټې ته بوتله، چې له پروړې نه ډکه وه. پاچا  د ژرندګړي لور ته یوه څرخه ورکړه او  داسې یې ورته وویل: «راځه اوس دې په کار  پیل وکړه، که تر سبا پورې دې دا پروړه په سره زرو باندې بدله نه کړه نو ته به ووژل شې.»

له  همدې امر سره سم پاچا  د خپلې کوټې دروازه بنده کړه. د ژرندګرې خوارکۍ لور په کوټه کې کېناسته او نه پوهېده چې څه وکړي.



بالآخره يې ژړا پيل کړه. په همدې  وخت کې يو وړوکی انسان کوټې ته راننوت او نجلۍ ته يې وويل: «ورځ مو نېکمرغه د ژرنده‌ګرې لورې. ولې ژاړې؟»

د ژرنده‌گړي لور ځواب ورکړ: «اخ، ما ته دنده راکړل شوې ده چې باید دا پروړه په سرو زرو بدله کړم، خو زه دا کار نه شم کولای.»

وړوکي انسان وویل: «که زه درته دا کار وکړم، ته ما ته څه شی راکوې؟»

نجلۍ وویل: «د خپلې غاړې امېل (غاړکۍ.)»

وړوکي انسان د نجلۍ د غاړې پټۍ (امېل) واخیست، خپله څرخ ته کېناست او د سرو زرو په جوړولو یې پېل وکړ. نوموړي تر سهار پورې ټوله پروړه په سرو زرو بدله کړه.

کله چې پاچا له لمرخاته څخه مخکې کوټې ته ورغی، نو دومره ډېرو سرو زرو ته هک حیران پاتې شو. له دې سره سم پاچا نجلۍ یوې بلې داسې کوټې ته بوتله چې له دې کوټې څخه لویه وه، هلته لا زیاته پروړه وه او نجلۍ ته یې وویل چې دا هم باید په سرو زرو بدله شي.



د ژرندگړي لور بیا په ژړا شوه خو گوري چې بیا وړوکی انسان را پیدا ش نجلۍ ته یې وویل: «که زه درته دا کار وکړم، ما ته څه شی راکوې ؟»

نجلۍ وويل: «خپله ګوتمۍ درکوم.»

وړوکي انسان ګوتمۍ واخیستله او څرخ ته کېناست تر سهار پورې ټوله پروړه په سرو زرو بدله کړه. پاچا دومره سرو زرو ته ښېحده خوشحاله شو، خو په طلا موړ نه شو او غوښتل یې چې نوره طلا هم و لري.



پاچا په دې توګه د ژرنده‌ګرې لور یوې بلې لویې کوټې ته بوتله، چې دا هم له پروړې څخه ډکه وه او ورته ویې ویل: «که دا ټوله پروړه دې هم په سرو زرو بدله کړه، ته به بیا زما مېرمن (ملکه) شې.» پاچا له نجلۍ سره دا ژمنه وکړه.

کله چې نجلۍ بیا یوازې شوه، وړوکی انسان بیا راغی او پوښتنه یې وکړه: «که زه بیا دا پروړه په سرو زرو درته بدله کړم، ما ته څه شی راکوې؟»

نجلۍ ځواب ورکړ: «زه خو نور هېڅ نه لرم.» وړوکي انسان وویل: «ښه نو ژمنه وکړه، کله چې تا له پاچا نه اول ماشوم نړۍ راوړ نو هغه به ما ته راکوې.» د اړتیا په وخت کې نجلۍ دا ژمنه

وکړه. وړوکي انسان تر سهاره پورې پروړه په سرو زرو بدله کړه. پاچا سرو زرو ته ډېر خوشحاله شو او د ژرندګړي له لور سره یې واده وکړ. یو کال وروسته چې کله د نوې ملکې ماشوم وزېږېد  په دې وخت کې وړوکی انسان کوټې ته راننوت او ویې ویل: «ښه نو اوس دې خپله ژمنه راسره پوره کړه.»

ملکه وویرېدله او ویې ویل: «څومره خزانه چې اخیستلی شې وایې خله، خو زما ماشوم ما ته پرېږده.»



وړوکي انسان د ژرندګړي لور ته وويل: «خزانه دې له ځان سره وساته، زما يو ژوندی شی پکار دی. خو بيا هم که چېرې ته په درېو ورځو کې زما په نوم پوه شوې، نو بيا خپل ماشوم له ځان سره ساتلی شې.»

ملکې يو پوست رسوونکی بهر واستاوه چې د نوم پلټنه وکړي. خپله يې هم ټوله شپه فکر کاوه، چې د دې وړوکي انسان نوم به څه وي؟ کله چې شپه سبا او سهار شو، وړوکی انسان راغی او ملکې د مسخرې په ډول ورته څنزبيل او خرده‌جيل او داسې نور نومونه واخيستل.

خو وړوکي انسان وويل: «دا زما نومونه نه دي.»

په دويمه ورځ ملکې په ګاونډ هېواد کې د نومونو پوښتنه وکړه او وړوکي انسان ته يې عجيبه نومونه واخيستل لکه ښونګښ مار، خرپېښ او داسې نور. خو بيا هم وړوکي انسان وويل: «دا زما نومونه نه دي.»



په دريمه ورځ پوسته رسوونکی راغی خو کوم نوی نوم يې پيدا نه کړ، خو نوموړي يو عجيب شی وليدل.



پوسته رسوونکي ملکې ته کیسه وکړه: «کله چې زه د ځنګل په منځ کې تېرېدم، ما یو ناڅاپه یو وړوکی کور ولید. هلته پکې اور بل و او د اور شاوخوا ته یو وړوکي انسان په خندا وو او په یوه پښه ټوپونه وهل. نوموړي له ځان سره داسې خبره کوله: «نن پخوم زه، سبا یې خورم زه، بل سبا د پاچا لور راولم زه.اخ، څومره ښه دی، چې څوک نه پوهېږي، دا چې زه غم غبیل نومېږم.»

کله چې ملکې دا خبره واورېده، نو د زړه له تله خوشحاله شوه.





له دې  سره سم وړوکی انسان د ملکې کور ته راننوت او ویې ویل: «ښه نو ملکې ووایه، چې زه څه نومېږم؟»

ملکې وويل: «ستا نوم کُنراد دی؟» وړوکي انسان وخندل او ویې ویل: «نه داسې خو نه دی»

ملکې وويل: «ته هنریک نومېږې؟» وړوکي انسان وويل: «نه دا هم نه دی»

وړوکي انسان ځواب ورکړ او خوشحاله شو، چې نور ماشوم د ده شو. خو کله چې ملکې وويل: «ستا نوم غم غبیل دی؟» وړوکي انسان چيغې کړې او ویې ویل: «دا تا ته کوم شیطان ویلي دي؟»

له دې سره جوخت وړوکی انسان له ډېرې غوسې  څخه خپلې پښې په ځمکه کلکې وډبولې او لاړ او داسې ورک شو چې بیا  يې هېڅ پته و نه لګېده.



# راپونځېل



په پخوا زمانو کې یو سړی او یوه ښځه وو، چې ډېر وخت کېده ورکره ماشوم نه وو زیږېدلی چې بالآخره دا ښځه امېندواره شوه. دغې ښځې او مېړه د کور شا ته یوه وړه کړکۍ درلوده چې له هغې څخه بهر یو ښکلی او شانداره باغ ښکارېده. په دې باغ کې ډېر ښکلي ګلان، بوټي او سابه ښکارېدل. له دې باغ څخه یو لوی دېوال راتاو شوی و. هېڅ انسان جرات نه شو کولای چې له دېوال څخه واوړي او د باغ منځ ته ورشيځکه چې دا د یوې جادوګرې باغ و، چې ډېره زوروره او وېرونکې جادوګره وه.

یوه ورځ ښځې د شا له کړکۍ څخه د جادوګرې باغ ته وکتل او هلته یې یو پټی ولید، چې خوندور بوټي (راپونځېل) پکې رازرغون شوي وو.

ښځې وویل: «اخ، دا څومره تازه او شنه ښکاري، چې زما اشتها ورته راغله، زه باید له دې راپونځېل څخه یو څه وخورم.»

هره ورځ به چې دغې ښځې د باغ راپونځېل ته کتل، نو همدومره به یې د هغه خوراک ته اشتها راتله. سره له دې چې دا ښځه پوهېده چې هېڅوک دا راپونځېل نه شي را شکولی، خو د دې سره ښځه د وخت په تېرېدو سره ډنګرېده، زېړېده او بالاخره ناروغه شوه. کله یې چې مېړه پوه شو، نو ووېرېده چې په څه مصیبت مبتلا شوې نو پوښتنه یې ترې وکړه: «ګرانې ښځې، په تا باندې څه شوي؟»

ښځې وویل: «اخ، که چېرته د کور د شا هغه راپونځېل ونه خورم، نو زه هرو مرو مړه کېږم.»

په سړي باندې خپله ښځه ډېره ګرانه وه او نه یې غوښتل، چې مړه شي. نو سړي فکر وکړ: «په هر قیمت چې کېږي، زه باید د جادوګرې باغ ته ورشم او او راپونځېل به ترې راوړم.»

سړی په سکښې ماښام (د ماښام شروع چې نوې تیاره شي) کې باغ ته لاړ، په جګ دېوال ور پورته شو او ترې واوښت. ښه یوه ګېډۍ راپونځېل یې راوشکول او خپلې ښځې ته یې راوړل. ښځې یې ژر راپونځېل واخیستل او سلاد یې ترې جوړ کړ او په مینه، مینه یې وخوړل. د جادوګرې د باغ راپونځېل ښځې ته دومره خوند ورکړچې بله ورځ یې اشتها یو په درې شوه.

سړی پوه شو او له ځان سره یې وویل: «تر هغو پورې چې ښځه یې راپونځېل ونه خوري، هېڅ آرام  به پیدا نه کړي نو زه باید په منظمه توګه راپونځېل ورته راوړم.»  په همدې سره سړی مجبور شو، چې دویم وار  ځل بیا په لوړ دېوال واوړي او خپلې مېرمن ته راپونځېل راوړي. هغه ډېره بېړه وکړه چې دا کار ژر تمام کړي، خو کله چې راپونځېل ته ور ټیټ شو او نږدې و چې وېې شکوي، نو یو ناڅاپه یې  یو قهرېدلی غږ پورته شو او داسې یې وویل: «ته پوهېږې! چې هېڅوک زما باغ ته د راتلو اجازه نه لري. تا څنګه دا جرات وکړ، چې راشې او راپونځېل غلا کړې؟ دا به تا ته ډېره خطرناکه وي.»

سړي ځواب ورکړ: «اخ، تاسې پر ما زړه وسوزوئ. تاسې باور وکړئ، چې ما له ډېرې مجبورۍ څخه دا کار کړی دی. زما ښځه امېندواره ده، هغې له کړکۍ  څخه ستاسو دا خوندور راپونځېل ولیدل او ډېره اشتها یې ورته راغله. پوهېږئ؟ که زه دا راپونځېل ورته  یو نه سم، نو هغه به مړه شي.»

کله چې جادوګرې دا  خبره واورېده، نو قهر یې ارام شو او وېې ویل: «له دې څخه وروسته ته دا راپونځېل وړلی شې. هر څومره چې غواړې، خو په یوشرط هغه دا چې کله ستا ښځې ماشوم دنیا ته راوړ، هغه به ما ته راکوې. زه به د هغه مور شم او زه به یې ډېر ښه وساتم.»

دغه سړی چې ډېر اړ و،  نو ژمنه یې وکړه، چې د هغې غوښتنه به مني.





کله چې ښځې ماشوم دنیا ته راوړ، نو جادوګره راغله، ماشوم یې واخیست او په  هغه باندې یې راپونځېل نوم کېښود.



راپونځېل غټېدله او ډېره ښکلې نجلۍ ترې جوړه شوه. کله چې نجلۍ دولس کلنه شوه، نو جادوګرې په یو برج کې بندي کړه. دا برج په یو ځنګله کې و، چې نه یې دروازه درلوده او نه یې کومه زینه.  یوازې د کوټې په سر کې یوه کړکۍ وه.
کله به چې جادوګرې غوښتل پاس برج ته وخېژي، نو غږ به یې وکړ: «راپونځېل! راپونځېل! وېښتان دې ما ته ښکته راوغورځوه.»

راپونځېل ښکلي اوږده وېښتان درلودل. د دې وېښتان داسې پاسته وو لکه رېشل شوي سره زر. نو کله به چې دې نجلۍ د جادوګرې غږ واورېد، خپل چوټې به يې راځوړنده کړه او د کړکۍ له يو چنګک سره به يې وتړل. وېښتان به شل متره ښکته راولوېدل او جادوګره به خپلې کوټې پرې وختله.



په دې منځ کې څو کاله تېر شول او د دوی ژوند په همدې توګه روان وو. یوه ورځ یو ځوان شهزاده چې په همدې ځنګل کې تېرېده، ناڅاپي یې برج ته پام شو.

ځوان د برج له داخل څخه په ښکلي آواز یوه سندره واورېده، له دې سره ودرېد او غوږ یې ونیوه. شهزاده یوه ښکلې نجلۍ ولیده، چې په کړکۍ کې ولاړه ده. ځوان د نجلۍ په لیدو سره سم پر هغه د زړه له تله مین شو.

شهزاده غوښتل چې د نجلۍ هستوګنځي ته ور وخېژي او وګوري چې کیسه څه ده، خو کومه زینه یا دروازه پیدا نه کړه او نااميده خپل کور ته ستون شو. له دې څخه وروسته به هره ورځ شهزاده ځنګل ته راته او د راپونځېل سندره به یې اورېدله.



کله چې هغه د یوې ونې شا ته ولاړ و، جادوګره راغله او وایې ورېدل چې څنګه غږ کوي: «راپونځېل! راپونځېل! وېښتان دې ما ته ښکته راوغورځوه.»

راپونځېل خپل وېښتان راخوشې کړل او جادوګره به پرې پورته وختله.

شهزاده وویل: «ښه نو دا زینه ده.» هغه له ځان سره دا جمله ښه په یاد وساتله. بله ورځ چې هغه راغی او لږ څه تورتم شو، برج ته لاړ او غږ یې وکړ: «راپونځېل! راپونځېل! وېښتان دې ما ته ښکته راوغورځوه.» له دې سره وېښتان راولوېدل او دا ځوان پرې پورته وخوت.



کله چې سرې د نجلۍ مخې ته ودرېد په اوله کې راپونځېل ووېرېده. خو وروسته شهزاده هم د نجلۍ خوښ شو. بیا نو دوی دواړو ژمنه وکړه، چې له دې څخه وروسته به شهزاده هره ورځ دلته راځي. همداراز دوی ډېر وخت په خوښۍ ژوند وکړ. جادوګره به هېڅ نه پرې پوهېده، تر هغو پورې چې یوه ورځ راپونځېل ووېل: «آغلې ګوتل، د هغه شهزاده په پرتله ستاسو وزن زښت ډېر دی.»

جادوګرې ووېل: «بې صاحبه نجلۍ.» او په قهرجن آواز سره یې چیغې کړې. قیچي یې راواخیستله او د نجلۍ وېښتان یې قیچي کړل.



په دې ماښام چې کله شهزاده راغی، نو جادوګرې د راپونځېل وېښتان ښکته ورځوړند کړل. شهزاده چې د ښایسته نجلۍ برج ته هسک شو او يو ناڅاپه يې جادوګره وليدله نو ډېر زيات ووېرېده.



جادوگرې  شهزاده ته په ډېر بد نظر وکتل او په ملنډو يې داسې غږ پرې وکړ: «ښه ښه، تا غوښتل چې خپله مينه له ځان سره بوځې، خو دا  د تل لپاره ورکه شوې  او نور به يې په سترګو هم و نه ګورې.»  د دې خبرې په اورېدو سره شهزاده ډېر زيات خپه شو، له برج څخه ښکته را ولوېد خو ژوندی پاتې شو. خوارکی شهزاده په اغزيو باندې ولوېد او سترګې يې ړندې شوې. هغه په داسې يو ځنګل کې هاخوا او دېخوا ګرځېده چې له وښو او بوټو څخه  بل څه نه وو، چې ده خوړلي وای او تل به يې ژړل.





په شهزاده څو کاله په ځنګل کې په همداسې شکل تېر شول. یوه ورځ شهزاده په یوې کنډواله کې ګرځېده البته په داسې ځای کې چې راپونځېل په ډېرې غریبۍ ژوند پکې کاوه. کله چې جادوګرې راپونځېل وشړله، نو له هغه څخه وروسته د راپونځېل دوه ماشومان وزېږېدل، چې یو یې زوی او بله لور وه.

شهزاده یو ناڅاپه داسې غږ واورېد، چې ورته اشنا و نو په همدې غږ پسې لاړ. کله چې راپونځېل شهزاده ولید، نو ویې پېژانده، په غاړه کې یې ولوېده او ویې ژړل. په دې وخت کې د راپونځېل دوه څاڅکي اوښکې د شهزاده په سترګو کې ولوېدې او له دې سره د هلک سترګې بېرته روښانه شوې. بیا یې د پخوا په څېر بېرته لیدل کولای شو.

شهزاده خپله ښځه او بچي واخیستل او خپلې پاچاهۍ ته یې له ځان سره بوتلل او هلته یې له یو بل سره په خوشحالۍ ژوند پیل کړ.




څونګښ باچا

په پخوا زمانو یوه شهزادګۍ وه  چې ځنګل ته به تله او  د سړو اوبو د یو څاه په غاړه کېناستله.

په دې ځای کې د شهزادګۍ د خوښې وړ د لوبو سامان د سرو زرو یو غونډارى و چې نوموړې به سات تېري پرې کوله. دا غونډارى به يې پورته غورځاوه او بېرته به يې په لاسونو نيوه، چې له دې ډول لوبې سره به دا ډېره خوشحاله وه. کله چې شهزادګۍ د کوهي پر غاړه دا لوبه کوله نو غونډارى ډېر پورته لاړ. شهزادګۍ خپل لاسونه وغځول، چې غونډارى ونيسي، خو  و نه توانېده چې را ويې نيسي او غونډارى د اوبو منځ ته ولوېد او ورک شو.





شهزادګۍ ډېره خپه شوه او په وېرېدلي نظر يې څاه ته کتل، خو دا څاه ډېره ژوره وه، د څاه تل يې نه شو ليدلی او په ژړا يې شروع وکړه.
شهزادګۍ  په ژړا کې سلګۍ وهلې او  و يې ويل: «که زه چېرې دا غوندۍ بېرته تر لاسه کړم، زه به د دې په بدل کې خپل هر څه له لاسه ورکړم. خپلې جامې، قېمتي ډبرې، مرغلرې او هر څه چې لرم.»
کله چې  نوموړې فرياد کاوه، په دې وخت کې يو  ځونګښ له اوبو له منځ څخه خپل سر راوويست او ويې ويل: «شهزادګۍ، ولې دومره ژړا او انګولا کوې؟»
شهزادګۍ  ځونګښ ته ځواب ورکړ: «اخ، بد شکله چونګښه! ته چېرې له ما سره مرسته کولای شې. له ما نه مې د سرو زرو غونډارۍ په څاه کې ولوېد او ورک شو.»
ځونګښ ورته وويل: «ستا ملغلرې، قېمتي ډبرې او ستا جامې مې پکار نه دي. خو که ته ما د انډيوال په  توګه منې او زه له تا سره په يوه مېز کېنم، ستا د سرو زرو په قاب کې خوراک وکړم، ستا په کټ کې خوب وکړی شم او ستا خوښ شم، نو بيا نو کولای شم چې ستا غونډارۍ بېرته درته راوباسم.»
شهزادګۍ فکر وکړ: «دغه بېعقل ځونګښ څه شی غږوي؟ دا بايد په اوبو کې پاتې شي يا خو کېدی شي يا په رښتيا زما غونډارۍ راويستلی شي.» نو ځکه  شهزادګۍ چونګښ ژر د هو په توګه وويل: «څه شی چې ته غواړې زه يې درسره ژمنه کوم، خو ته  لومړی ما ته خپل غونډارۍ له اوبو څخه بېرته راوباسه.»
ځونګښ خپل سر ښکته کړ او ژورو اوبو ته ننوت. دې کار ډېر وخت ونه نيوه، چې بېرته راووت، غونډارۍ يې راوويست او بهر يې وغورځاوه.
شهزادګۍ په بېړه منډه کړه او هغه يې پورته کړ. کله يې چې  د لوبو طلايي غونډارۍ بېرته تر لاسه کړ نو ډېره خوشحاله شوه او له ډېرې خوشحالۍ  څخه يې خپلې ژمنې ته هېڅ پام ونه نيوه، په ډېره خوښۍ او بيړه خپل کور ته روانه شوه.



ځنګه چې نوموړې کور ته روانه شوه، ځونګښ هم ورپسې روان شو او غږ یې پرې وکړ: «شهزادګۍ صبر وکړه! زه هم درسره ځم، تا خو له ما سره ژمنه کړې ده اوته باید په خپلې ژمنې ټینګه ودرېږې.»

شهزادګۍ د ځونګښ د خبرو هېڅ پروا ونه ساتله او خپل کور ته لاړه.

کله چې سبا شو او شهزادګۍ د خپل کور له غړو سره یو ځای مېز ته د ډوډۍ خوړلو لپاره کېناسته، په همدې دې وخت کې چونګښ هم راغی او ور یې وټکاه. پاچا شهزادګۍ ته وویل: «ته وګوره لورې چې په وره کې څوک دی؟» نجلۍ لاړه او ور یې خلاص کړ. خو ګوري چې ځونګښ دی، ور یې ژر بند کړ، لاړه او بېرته خپل مېز ته کېناسته. پاچا پوښتنه ترې وکړه: «بهر څوک و؟»

نجلۍ وویل: «بهر یو بد شکله ځونګښ دی. هغه پرون له څاه څخه زما د سرو زرو غونډارۍ راوویست. ما له هغه سره ژمنه وکړه، چې د دې په بدل کې به ځونګښ زما ملګری شي. مګر ما فکر نه کاوه، چې هغه به له اوبو څخه زما غونډارۍ راوویستلی شي او دا دی اوس هغه بهر د دروازې مخې ته ولاړ دی او غواړي چې کور ته د ننه راشي.»

په همدې وخت کې ځونګښ د دویم ځل لپاره د کور دروازه و ټکوله او په لوړ غږ یې وویل: «شهزادګۍ، پېغلې، ور راته خلاص کړه! ته نه پوهېږې، چې پرون دې ماته د سړو اوبو لرونکې څاه په سر څه وویل؟»

شهزادګۍ، پېغلې، ور راته خلاص کړه!»

پاچا شهزادګۍ ته وویل: «له چا سره دې چې ژمنه وکړه نو په خپلې ژمنې دربېږه. ځه او ځونګښ ته ور خلاص کړه.»

نجلۍ لاړه او ور یې خلاص کړ. ځونګښ په نجلۍ پسې تر چوکۍ پورې په ټوپونو راغی.



کله چې نجلۍ د ډوډۍ خوړلو د مېز شاته په چوکۍ کېناسته، ځونګښ ورغږ کړ: «ما پورته کړه او په خپله خوا کې مې کېنوه.»
شهزادګۍ نه غوښتل چې دا کار وکړي، خو پاچا امر وکړ، چې ځونګښ پورته کړه .
کله یې چې چونګښ پورته کړ، بیا یې ورته وویل: «اوس نو خپل د سرو زرو قاب ما ته را دېخوا کړه، زه غواړم چې له تا سره یکې خوراک وکړم.»
شهزادګۍ مجبوره وه، چې همداسې وکړي، یعنې څه چې ځونګښ غوښتل.
کله چې ځونګښ ښه موړ شو، بیا یې وویل: «اوس زه ډېر ستومانه شوی یم، غواړم چې ویده شم. ما خپلې کوټې ته بوزه ه او ما ته د خپل خوب کټ جوړ کړه. زه غواړم چې موږ دواړه هلته په کټ باندې یو ځای ځملو.»
کله چې شهزادګۍ دا واورېدل، نو ډېره ووېرېده. شهزادګۍ د ځونګښ له یخ بدن څخه ډېره وېرېدله او له هغه سره یې لاس نه شو یو کولای، چې اوس له هغه سره یوځای په کټ باندې ځملي.
په دې وخت کې نجلۍ د ژړا په حالت کې زارۍ ورته وکړې، چې دا کار نه شم کولای.
خو پاچا ډېر په قهر شو او خپلې لور ته یې امر وکړ، چې کومه ژمنه دې له ځونګښ سره کړې، باید پوره یې کړې.
د نجلۍ ژړا کومه ګټه ونه کړه، څه یې چې پلار ویل باید نجلۍ تر سره کړي وی. که څه هم په هغې باندې ډېره سخته هم تمامېده.
له همدې سره شهزادګۍ ځونګښ په خپلو دوو ګوتو کې ونیو، خپلې د خوب کوټې ته یې بوت او د کوټې په یو کنج کې یې کېناوه.



له همدې سره سم شهزادګۍ بيا په خپل کټ کې پرېوتله.

کله چې شهزادګۍ په خپل کټ و غزېده نو په همدې وخت کې ګونګټ په ټوپونو د هغې خواته راغی او ويې ويل: «زه ستومانه يم، زه غواړم چې تا غوندې ويده شم. ما پورته کړه، که نه نو پلار ته دې وايم.»


NS

د ځونګښ په دې خبره شهزادګۍ ډېره په غوسه شوه. هغې چونګښ ونيو، د دې پر ځای چې په خپل ځنګ کې يې په کټ واچوي، هغه يې په ټول زور له سره تاو کړ، په دېوال يې وويشت او ويې ويل: «اې بدرنګ ځونګښه! نور مې نو په کراره پرېږده.»

په همدې وخت کې يو عجيبه پېښه و شوه هغه دا چې د دې پر ځای چې ځونګښ د شهزادګۍ په ګذار سره مړ شي لکه څنګه چې شهزادګۍ فکر کړی و، برعکس د هغې په مخ کې د ځونګښ پر ځای يو ښکلی ځوان شهزاده ودرېد.





شهزاده دې نجلۍ ته کیسه وکړه، چې په ده باندې یوې شیشکې جادو کړی و او له ده څخه یې ځونګښ جوړ کړی و. اوس شهزادګۍ داسې کار وکړ، چې د شیشکې جادو یې مات کړ او له ده څخه بېرته انسان جوړ شو.

مخکې شهزادګۍ ته ډېره سخته وه، چې خپله ژمنه پوره کړي. اوس نو دغه شهزاده د پاچا د لور ملګری او هم یې خاوند شو.

بله ورځ یوه شانداره او ښکلې ګاډۍ، چې په اتو آسونو پسې تړلې وه راغله. له دې ګاډۍ سره د شهزاده خدمتګاران او د ده وفاداره هنریک هم راغلل.

کله چې شهزاده په ځونګښ بدل شو، نو هنریک خپله سینه په درې وسپنیزو پټیو وتړله چې له خپګان څخه یې زړه مات نه شي. اوس نو هغه وخت راغلی، چې دا له خپل نېک (بادار) سره بېرته ماڼۍ ته روان دی.

شهزادګۍ ګاډۍ ته وختله او شهزاده د خپلې ناوې خوا ته کېناست او د ده وفادار ملګری هنریک د دوی شاته ودرېد.

کله چې دوی یو څه مزل وکړ، شهزاده له شا څخه یو غږ واورېد لکه د ګاډۍ کوم شی چې مات شوی وي.

هغه وویرېده،مخ یې واړاوه او غږ یې وکړ: «هنریک، ګاډۍ ماتېږي، یو خطرناک غږ مې تر غوږ شو.»

هنریک وویل: «نه، باداره، داسې نه ده، دا غږ د ګاډۍ نه وو، دا زما د زړه یوه پټۍ ده چې له ډېره درده زما په سینه پرته وه او هغه مهال زما سینې ته لوېدلې وه کله چې ته ځونګښ او په څاه کې ناست وې.»



دوه وارې نور هم شهزاده  ورته  غږونه واورېدل او هر وار يې فکر کاوه، چې ګاډی ماته شوې ده. خو دا هغه پټۍ وې، چې هنريک له ډېره خپګانه په سينه  پورې تړلې وه او اوس له سينې څخه لرې او ماته شوه ځکه چې ظالمې جادوګرې يې  ملګری شهزاده په ځونګښ بدل کړی و.

## هېنځېل او ګرېتل



په یو وړوکي کورګي کې یو لرګي ماتونکي شخص له خپلې مېرمن او دوو ماشومانو، یعنې هېنځېل او ګرېتل سره ژوند کاوه. یوه شپه، کله چې دوی ویده کېدل، ښځې خپل مېړه ته

وویل: «گرانه مېره، موږ په کور کې ډوډۍ او پیسې نه لرو، چې د خوراک لپاره څه پرې واخلو. زه هېڅ کومه بله لاره نه وینم، پرته له دې چې دا ماشومان واخلو، له ځان سره یې ځنګله ته بوزو او هلته یې خوشې کړو. که نه نو موږ ټول به له لوږې څخه یو پر بل پسې مړه شو.»

مېړه یې ورسره مخالفت وکړ ځکه چې په ماشومانو یې زړه سوزېده. خو ښځې یې هېڅ ارام نه درلود، چې بالآخره یې مېړه مجبور شو او خبره یې ورسره ومنله.

هېنځېل لا ویښ و، د خپلې مېرې ټولې خبرې یې واورېدې. په همدې وخت کې ورو له خپل کټ څخه پاڅېده او بهر ته لاړ. هلته یې سپین کاڼي راټول کړل او خپل جېب یې ترې ډک کړ.

کله چې سبا شو، نو مور، پلار او ماشومان ځنګل ته روان شول. هېنځېل به په روانېدو کې یو یو کاڼی غورځاوه چې بالآخرهځنګله ته ورسېدل.

مور یې ماشومانو ته وویل: «اوس نو تاسې لږ څه ارام وکړئ. موږ لږ نور هم ځنګل ته د ننه ځو چې هلته لرګي مات کړو. کله چې ماښام شو موږ راځو او تاسو هم له ځان سره اخلو او کور ته مو بیایو.»

په همدې سره ماشومان ویده شول خو کله چې له خوبه راویښ شول، ویې کتل چې تپه تیاره ده او شپه شوې ده.



په دې وخت کې ګرېټل وويرېدله او په ژړا يې شروع کړه. خو هېنځېل لرګي راټول کړل او اور يې بل کړ، او خپلې خور ته وويل: «ارامه شه ګرېټل. مور لاره پيدا کولای شو او بېرته به کور ته لاړ شو.»



هېنځېل لرګي راټول کړل او اور يې بل کړ، چې ځانونه تاوده کړي. له دې  څخه وروسته روان شول او هغه کاڼي چې هېنځېل په لاره کې غورځولي وو، د سپوږمۍ روښنايي ته ځلېدل. نو  هماغه و، چې ماشومانو د کاڼو په مرسته لاره پېدا کړه او د سهار له رڼايي سره د خپل کور دروازې ته ورسېدل.



بله ورځ بيا کله چې هېنځېل په کټ کې پروت و، د مېرې خبرې يې واورېدې، چې مېړه ته يې کولې.
دا ځل هېنځېل بهر ته نه شو تلی او سپين کاڼي يې نه شو راوړلی. ځکه چې د بهر دروازه تړلې وه.
څنګه چې شپه سهار شوه، مېرې دواړو ماشومانو ته يوه يوه ټوټه وچه ډوډۍ ورکړه. هېنځېل به له خپلې ډوډۍ څخه يو يو پوټی غورځاوه، چې په دې باندې ببرته لار پيدا کړي او کور ته راشي.
کله چې ماشومان بيا په ځنګله کې يوازې پاتې شول او ويې ليدل، چې هېڅوک نشته او تورتم دی، نو هېنځېل هڅه وکړه، چې د ډوډۍ د پوټيو په مرسته چې ده غورځولې  وو، لار پيدا کړي. خو د ځنګل مرغيو د ډوډيو  غوزار شوې ټولې پوټۍ خوړلې وې.
 له همدې کبله له ماشومانو  څخه دا ځل لاره ورکه شوه او په ځنګل کې وږي او ستومانه هاخوا او دېخوا ګرځېدل. ګوري چې په همدې وخت يو دم د دوی په مخ کې يو داسې کورګی پيدا شو چې له بېلابېلو کلچو څخه جوړ شوی و او د کړکۍ شيشې يې له بورې نه جوړې وې.. هېنځېل د کورګي له  بام

څخه یوه کلچه راواخیسته او ګرېتل له شیشه‌یي بورې نه کپ وکړ. دا و چې د کورګي دروازه خلاصه شوه او یوه شیشکه ترې را ووتله.



شیشکې ماشومان کور ته ننویستل. هېنځېل یې په یو غوجل کې بندي کړ او ویې ویل: «ته به دلته اوسیږې، چې په لږ وخت کې ښه غټ او چاغ شې. زه غواړم چې ښه دې کباب کړم او ودې خورم.»



بېوزله ګرېتل مجبوره  وه چې شپه او ورځ کار وکړي. هېنځېل ته به يې ښه خوراکونه ورکول. هره ورځ به شيشکې د هېنځېل په ګوته باندې لاس  واهه چې  ګواکي چاغ شوی دی که نه. دا چې شيشکه په سترګو ډېره کمزورې وه او سترګو يې سم کار نه کاوه، نو

هېنځېل به هر ځل یو هډوکی ورته نیوه، چې لاس پرې ووهي. شیشکې به فکر کاوه چې دا یې ګوته ده، نو بیا به په غوسه شوه. ځکه چې لاس خو یې پوست او چاغ نه دی.

یوه ورځ سهار شیشکې ګرېټل ته وویل: «زه نه غواړم چې نور ډېر انتظار وکړم. لاړه شه اوبه راوړه، لرګي راټول کړه او په داش کې اور بل کړه، چې نن هېنځېل کباب کړم او ویې خورم.»



ګرېټل چې هر څومره وژل کومه ګټه يې نه درلوده ځکه، څه شی چې شيشکې ويل دې بايد هماغه يې سر ته رسولي وی.

کله چې په داش کې اور بل شو، شيشکې ګرېټل ته وويل:«اوس ورځه داش ته ننوزه او وګوره چې ښه تود شوی که نه.»

دا چې ګرېټل ډېره هوښياره وه، شيشکې ته يې وويل: «زه څنګه داش ته ننوزم؟ ته اول ما ته چل وښيه، چې زه يې زده کړم.»

څنګه چې شيشکه داش ته ننوته، ګرېټل سمدلاسه هغه پورې وهله (ټېله کړه)، دروازه يې ورپسې وتړله او قلف يې کړه. په همدې سره شيشکې چيغې وهلې او د داش د ننه وسوځېده.

په همدې وخت کې ګرېټل په منډه غوجل ته لاړه ، چې خپل ورور له پنجرې څخه راخلاص کړي.

کله يې چې ورور له پنجرې څخه آزاد کړ، نو بېرته راغلل او د شيشکې په کورګي کې يې ډېر قېمتي شيان لکه سره زر، سپين زر، الماس او داسې نور قېمتي جواهرات پيدا کړل. هېنځېل خپل جېبونه او خلطه‌ګۍ ترې ډک کړل او ګرېټل هم له سرو زرو، سپينو زرو او الماسو څخه خپل پېش‌بند ډک کړ.

له همدې سره ورور او خور مخ په کور روان شول. کله چې دوی يو لوی ډنډ ته ورسېدل، نو ګوري چې له ډنډ څخه د تېرېدو لار نشته، چې دوی پرې تېر شي. په دې وخت کې يوه هېلۍ په لامبو وهلو راغله او ماشومانو ته يې وويل: «راځئ، زما په ملا باندې کېنئ، چې زه مو بلې خوا ته تېر کړم.»

په همدې سره ماشومان د هيلۍ په شا کېناستل او د ډنډ په بله خوا کې پلي شول.



لږ وخت وروسته ماشومان کور ته ورسېدل میرې او پلار یې چې کله بیا خپل ماشومان ولیدل له ډېرې خوښۍ څخه په ژړا شول.

هېنځېل او ګرېتل چې کومه خزانه له ځان سره راوړې وه، د دوی په مخ کې یې کېښوده.

اوس نو د دې کورنۍ ټول غړي له احتیاج څخه خلاص شول او او په خوشحالۍ سره یې ښکلی ژوند پیل کړ.



# موزه لرونکې پیشو



په پخوا زمانو کې يو ژرندګړی يا سيوان و، چې درې زامن، يوه ژرنده، يو خر او يوه پيشو يې درلودل. زامنو به يې اوړه کول، خره به غنم او جوار وړل او راوړل او پيشو به موږکان نيول. کله چې ژرندګړی مړ شو، نو درېواړو زامنو يې  د پلار ميراث په خپل منځ کې سره ووېشه. مشر زوی ژرنده واخيسته، دويم زوی يې خر واخيست او کشري زوی ته له پيشو نه پرته بل څه پاتې نه شول.



په دې تقسيم سره کشرى ډېر خپه شو او له ځان سره يې وويل: «زما په حق کې خو ډېر ظلم وشو، مشر ورور په ژرنده اوړه کولای شي، منځوى ورور په خره باندې سوارلي کولای شي، خو زه به په دې پيشو څه وکړم؟ پرته له دې چې د دې له پوستکي  څخه ځان ته يوه جوړه دستکش جوړې کړم او بس.»



دا چې پیشو په هر څه باندې پوه شوه چې د سیوان کشرى زوى ډېر خپه دى نو ویې ویل: «هلکه ما ته غوږ شه، ته ما مه وژنه، ته به زما د پوستکي په خرابو دستکشو څه وکړې؟ لاړ شه ما ته یوه جوړه موزې  برابرې کړه، چې له دې سره زه بهر ته لاړه شم او خلک راته وګوري. نو له دې  څخه وروسته به زه له تا سره ښه سمه، مناسبه او پر ځاى مرسته وکړم. زما مرسته شاید داسې مرسته وي چې ستا برخیک په ټولیزه توګه بدل کړي»

د پیشو په خبرو سره د ژرندګړي زوى حیران شو، چې ګواکي دا پیشو ولې داسې خبرې کوي. په دې  په همدې وخت په تصادفي توګه د دوى له څنګ سره یو موچي تېرېده، څنګه چې د ژرندګړي زوى  د زوى سترګې په موچي و لګېدې، نو د پیشو لپاره یې د یوې جوړې موزو د جوړولو  فرمایش ورکړ.  له دې سره سم موچي موزې جوړې کړې، پیشو واغوستلې او یوه بوجۍ چې یو څه دانه یې هم پکې اچولې  وه ، په یو مزي  یې تړلې وه، شاته یې واچوله.  پیشو د انسان  په څېر په دوو پښو روانه شوه او له کور څخه ووتله.



د دې وخت پاچا د زرکو د غوښې ډېر شوقي و. ټول ځنګل له زرکو څخه ډک و، خو یوه ښکاري هم نه شو کولاى چې زرکې ونیسي، ځکه چې هغه ډېرې هوښیارې وې او ښکاریانو ته یې ځانونه په لاس نه ورکول.

پیشو د زرکو په هوښیارۍ پوهېدله، نو له ځان سره یې یو پلان هراړخیز پلان جوړ کړی وو. کله چې پیشو ځنګل ته ورسېده، خپله بوجۍ یې خلاصه کړه. دانې یې هاخوا او دېخوا وشیندلې او مزی یې تر وښو لاندې د غټو بوټو په شا پورې تېر کړل او خپله هم هلته پټه شوه او د زرکو څارنه یې کوله.

په دې وخت کې زرکې په منډه منډه راغلې او کله یې چې دانې وموندلې، یو پر بل پسې یې بوجۍ ته ټوب کړ. په همدې سره زیات شمېر زرکانې په بوجۍ کې راټولې او بندې شوې. پیشو د بوجۍ د خولې مزی راکش کړ او په منډه یې د بوجۍ خوله بنده او په شا کړه. د زرکو له ښکار څخه وروسته پیشو سیده د پاچا ماڼۍ ته لاړه. د ماڼۍ ساتونکو غږ پرې وکړ: «درېش، ودرېږه، چېرته روانه یې؟» پیشو لنډ ځواب ورکړ: «پاچا ته ورځم.» ساتونکي وپوښتل: «ته خو په سد یې که لېونۍ، یوه پیشو او پاچا ته ورتګ؟» بل ساتونکي وویل: «پرېږده یې چې لاړه شي، هسې هم پاچا تل پیکه او ستومانه وي. کېدی شي چې پیشو یې په خپلو چټیاتو باندې یوه اندازه خوشحاله کړي.»

کله چې پیشو پاچا ته ورغله، خپل سر یې د احترام په موخه ټیټ کړ او ویې ویل: «زما ګران مشر راته هدایت وکړ چې زه تاسو ته دغه سوغات راوړم.» کله چې پاچا زرکان ولیدل، ډېر خوشحاله شو او امر یې وکړ، چې په دې بوجۍ کې له خزانې څخه دومره سره زر واچوي، چې دا پیشو یې وړلی شي. همدارنګه پاچا پیشو ته وویل: «دا خزانه دې خپل مشر ته یوسه او ورته ووایه چې پاچا له سوغات څخه ډېره ډېره مننه کوله.»

په همدې وخت کې د ژرندګري خوارکی زوی د کور په کړکۍ کې لاس تر زنې ناست او په فکرونو کې ډوب تللی و. دا چې نوموړي خپلې وروستۍ پیسې هم موچي ته د پیشو لپاره د موزو جوړولو په خاطر ورکړې، سخت خپه وو ځکه چې د ده په ګمان له دې کار څخه یې هېڅ راز ګټه تر لاسه نه کړه. په دې وخت کې پیشو د هلک کور ته رادننه شوه، له خپلې شا نه یې بوجۍ راښکته کړه، مزی یې راخلاص کړ، د بوجې ټول سره زر یې د ژرندګري

مخې ته چپه کړل او ویې ویل: «دا دی د پاچا له خوا څخه مې تا ته یو څه سره زر راوړي. پاچا سلامونه درته کول او له تا څخه یې د ښکار شوو زرکو په خاطر ډېره مننه کوله.»

د ژرندګړی کشری زوی د دومره شتمنۍ له لیدو څخه ډېر خوشحاله شو او له پیشو څخه یې د زړه له تله مننه وکړه. مخکې له دې چې هلک سرو او سپینو زرو ته لاس وروړي، د پیشو څخه یې د هغه د بیدا کولو په هکله پوښتنه وکړه. کله چې پیشو خپلې موزې وویستلې، ټوله کیسه یې له سره تر پایه ورته وکړه او بیا یې وویل: «ته اوس په کافي اندازه پیسې لرې، خو دا همداسې نه پاتې کېږي، زه سبا بیا موزې په پښو کوم او غواړم چې ته نور هم شتمن شې، پاچا ته ما دا خبره هم کړې ده، چې ګواکې ته یو اشرافي او درووند سړی یې.»

بله ورځ بیا هم پیشو خپلې موزې په پښو کړې، ښکار ته لاړه او پاچا ته یې ښې پرېمانه زرکې یووړې. د پیشو د زرکو ښکار په همدې توګه څو ورځې هم دوام وکړ او هره ورځ به یې په بدل کې سره زر کور ته راوړل. دا پیشو په پاچا باندې دومره ګرانه شوه، چې له پوښتنې پرته به یې شاهي ماڼۍ ته تګ راتګ کولای شو.

یوه ورځ پیشو د ماڼۍ په پخلنځي کې د نغري خوا ته ولاړه وه، چې ځان تود کړي. په دې وخت کې ګاډیوان راغی او په قهر یې وویل: «زه هیله لرم چې پاچا او شهزادګۍ په دار وځړول شي. ما غوښتل چې د کلي رستورانت ته لاړ شم، یو څه وڅښم او قطعې (پرې) وکړم، خو داسې ونه شول. ځکه چې زه باید دوی د ډنډ غاړې ته په چکر بوزم.»

ځنګه چې پیشو دا خبره واورېده، په منډه کور ته لاړه او خپل مالک ته یې وویل: «که ته غواړې چې یو اشرافي او شتمن سړی شې ، نو له ما سره ډنډ ته لاړ شه او هلته پکې ولامبه.» ژرندګړی نه پوهېده چې څه ووایي. خو په پیشو پسې روان شو او دواړه ډنډ ته ورسېدل. خپلې جامې یې وویستلې او لوڅ لپړ یې ډنډ ته ور ټوپ کړ. پیشو د ده جامې واخیستې، لاړه او په یوه ځای کې یې ځان پټ کړ. کله چې پاچا په ګاډۍ کې راغی نو پیشو یې مخې ته راغله او په بې‌وزله توګه یې فریاد وکړ: «اخ زموږ مهربانه پاچا، زما مالک دلته په ډنډ کې د لامبلو لپاره خپلې جامې د ډنډ په

غاړه کې وویستلې، چې یو غل راغی او د ده جامې یې ترې وتښتولې. اوس نو هغه په اوبو کې دی او راوتلی نه شي. که زما بادار په اوبو کې پاتې شي، نو له ډېرې یخنۍ څخه به مړ شي.»

څنګه چې پاچا دا خبره واورېده، نو ګاډی یې ودروله او یو خدمتګار ته یې وویل: «په منډه لاړ شه او له ماڼۍ څخه یوه جوړه ښکلې جامې درسره راوړه.» کله چې له شاهي ماڼۍ څخه ښکلې او شانداره جامې را و رسېدې نو د ژرندګري زوی واغوستې. دا چې پاچا د زرکو په خاطر غوښتل ژرندګري وګوري، نو دا یې له ځان سره په ګاډي کې کېناوه. شهزادګۍ هم غوښتل چې په ګاډي کې کېني، ځکه دا یو ښکلی ځوان و او د شهزادګۍ خوښ شو.





پیشو له دوی څخه مخکې لاړه او د ونو یوه لوی پټي ته ورسېده، چې هلته په سلګونو خلک په کار بوخت و او پیشو پوښتنه وکړه: «اې خلکو! دا ځمکه د چا ده؟» خلکو ځواب ورکړ: «دا د یو لوی جادوګر ځمکه ده.» پیشو ورته وویل: «غوږ شئ، اوس پاچا په دې لاره تېرېږي، که هغه وپوښتل چې دا ځمکه د چا ده، نو تاسې به ووایئ، چې دا د هغه ښاغلي ده. که داسې مو ونه ویل، نو تاسې ټول به ووهي.»



پیشو نوره هم وړاندې لاړه او د غنمو یو پټي ته ورسېده. دا پټی دومره لوی و، چې بل سر یې نه معلومېده. هلته له دوه سوو  څخه  ډېر خلک د غنمو په لو باندې بوخت وو. پیشو وویل: «اې خلکو! دا د غنمو ځمکه د چا ده؟» خلکو ځواب ورکړ: «دا د یو لوی جادوګر ده.» پیشو وویل: «غوږ شئ! اوس پاچا په دې لاره تېرېږي، که هغه وپوښتل چې دا ځمکه د چا ده، نو تاسې به ووایئ، چې دا د هغه ښاغلي ځمکه ده.» که داسې مو ونه ویل، نو تاسې ټول به ووهي.»

بالاخره پیشو یو ښکلي ځنګله ته ورسېده، چې هلته له درې سوو نه زیاتو خلکو کار کاوه. پیشو پوښتنه وکړه: «اې خلکو! دا ځنګل د چا دی؟» خلکو ځواب ورکړ: «دا د یو لوی جادوګر دی.» پیشو وویل: «غوږ شئ! اوس پاچا په دې لاره تېرېږي، که هغه وپوښتل چې دا ځنګل د چا دی، نو تاسې به ووایئ چې دا د هغه ښاغلي دی. که داسې مو ونه ویل، نو تاسې ټول به ووهي.»

 دا چې پیشو د یو انسان غوندې په  دوو پښو روانه وه او موزې یې هم په پښو کړې وې، نو ټولو خلکو په حیرانۍ سره ورته کتل او ترې وېرېدل.

 بالآخره  پیشو د جادوګر ماڼۍ ته ورسېده او د پښو په ټکولو سره ماڼۍ ته ننوتله. جادوګر پیشو ته په سپک نظر وکتل او  پوښتنه یې ترې وکړه چې هغه څه غواړي. پیشو د درناوي په توګه سر ورته ټیټ کړ او ویې ویل: «ما اورېدلي، چې ته د هر حیوان شکل ته خپل ځان بدلولی شې لکه سپی، ګیدړه یا لېوه. خو زما په اند ته به و نه شې کولای چې په فیل باندې ځان بدل کړې. نو د دې په خاطر زه راغلې یم، چې خپل ځان ډاډه کړم.»

جادوګر په غرور ورته وویل: «دا زما لپاره یو کوچنی کار دی.» د سترګو په رپ کې یې له ځان څخه  فیل جوړ کړ. بیا یې له ځان څخه  زمری جوړ کړ او د پیشو مخې ته ودرېد. پیشو ووېرېده او ویې ویل: «دا ډېر حیرانونکی کار دی، ما نه په خوب کې داسې کار لیدلی شو او نه مې یې فکر کولای شو. دا چې نوره هم ښه ډاډه شم. ته کولای شې چې د موږک

په څېر له ځانه یو وړوکی حیوان جوړ کړې؟ که دا کار دې وکړ، نو ته به د ټولې نړۍ غوره جادوګر وې.»



دا چې پیشو ډېرې ښې خبرې وکړې، نو جادوګر وویل: «هو ګرانې پیشو، دا کار هم کولای شم.» نو هغه و، چې له ځان څخه یو موږک جوړ کړ او په کوټه کې یې هاخوا او دېخوا ټوپونه وهل. پیشو په هغه پسې وه او په یو ټوپ سره یې موږک ونیوه او ویې خوړ.
پاچا، شهزادګۍ او د ژرندګرۍ زوی په لاره کې وو، چې د ونو لویې ځمکې ته ورسېدل او ویې پوښتل: «دا وابښه د چا دي؟» لکه څنګه چې پیشو ورته ویلي وو، خلکو ځواب ورکړ: «دا د هغه ښاغلي دي.» بیا نو پاچا د ژرندګري زوی ته وویل چې تاسې ډېره ښایسته ځمکه لرئ. همدا ډول د غنمو پټيو ته ورسېدل او پوښتنه یې وکړه: «دا غنم د چا دي؟» خلکو

ځواب ورکړ: «دا د هغه ښاغلي دي.» کله چې ځنګله ته ورسېدل، بیا یې وپوښتل: «دا لرګي د چا دي؟» بیا خلکو ځواب ورکړ: «دا د هغه ښاغلي دي.» پاچا حیران شو او ویې ویل: «تاسې زښت ډېر شتمن یاست، زه باور نه لرم چې حتی زه چې پاچا یم تاسو غوندې ښکلی او لوی ځنګل ولرم.»



بالآخره دوی درېواړه ماڼۍ ته ورسېدل. پیشو پاس په زینه کې ولاړه وه. کله چې ګاډۍ لاندې ودرېدله، نو پیشو ټوپ کړ، ور یې خلاص کړ او ویې ویل: «ښاغلي پاچا، زما د مالک

ماڼۍ ته ښه راغلاست. دا د خوښۍ او وياړ ځای دی چې تاسو دلته راغلئ.» پاچا له ګاډۍ څخه راښکته شو او دغې ښکلې ماڼۍ ته حيران پاتې شو چې د پاچا له ماڼۍ څخه هم لويه او ښکلې وه. د ژرندګرې کشر زوی شهزادګۍ په زينو کې پاس داسې يو سالون ته بوتله، چې له سرو زرو او قېمتي ډبرو نه جوړ شوی و.

په دې سره د ژرندګرې زوی له شهزادګۍ سره واده وکړ او کله چې پاچا مړ شو نو د ژرندګرۍ زوی پاچا شو او پيشو يې لومړۍ وزيره شوه.



# د ژباړونکي لنډه بیوګرافي



اسدالله ملکزی د قطب الدین ملکزي زوی او د ملک غوث الدین لمسی د ۱۹٦۰ زیږدیز کال د مارچ د میاشتې په ۲۰ نېټه د ننګرهار ولایت، کوز کونړ ولسوالی د قلعټک په کلي کې زیږېدلی دی.

خپلې لومړني زده کړې یې له ۱۹٦۵ کال څخه تر ۱۹۷۷ زیږدیزکال پورې د افغان سید جمال الدین په لېسه کې سرته رسولې دي.

له ۱۹۷۷ څخه تر ۱۹۷۸ کال پورې یې د کابل پولېتخنیک په پوهنتون او له یوه سمستر څخه وروسته له ۱۹۷۸ څخه تر ۱۹۸۳ زیږدیز کال پورې د پخواني شوروي اتحاد د تاجکستان جمهوریت د دوشنبې په پولیتخنیک پوهنتون کې لوړې زده کړې سرته رسولي دي.

د دیپلوم له لاسته راوړلو څخه وروسته یې د هېواد په داخل او خارج کې په مختلفو ساحو کې یو لړ دندې سر ته رسوې چې په لاندې ډول دي:

له ۱۹۸۳ څخه تر ۱۹۸۴ زیږدیز کال پورې د ټولګټو وزارت د پلان او ارزیابۍ په ریاست کې د انجنیر په حیث، له ۱۹۸۴ څخه تر ۱۹۸۸ زیږدیزکال پورې د لارو او هوایي ډګرونو په ریاست کې د کارمند په توګه، له دې څخه وروسته تر ۱۹۹۳ زیږدیز کال پورې د ګډوالۍ په کلونو کې وزګار و. له ۱۹۹۳ کال څخه تر ۲۰۰۵ زیږدیز کال پورې یې په آلمان کې په مختلفو ځانګو کې دندې سر ته رسولې دي. له ۲۰۰۵ څخه تر ۲۰۰٦ زیږدیز پورې د آلمان Help خیریه موسسې سره د انجنیر په حیث د افغانستان په فراه ولایت او له هغه څخه وروسته د ۲۰۰۸ زیږدیزکال تر پایه په افغانستان کې د افغان بیسیم مخابراتي شرکت سره د انجنیر په حیث دنده سر ته رسولې ده. وروسته د آلمان د بیبرا Bebra ښار په ښاروالۍ کې د آلمان د سوسیال دیموکرات ګونډ له له طرفه د پارلمان د افتخاري غړي په توګه نوماند وو.

**Book Details**

| | |
|---|---|
| Book Title | Grimm's Fairy Tales, by The Brothers Grimm |
| Translator | Dipl Eng Assadullah Malakzay |
| Publisher | Afghanic |
| Copies | 1000 |
| Printed | 2022, First |
| Download | www.ecampus-afghanistan.org<br>www.afghanic.de/download |

2022 CC BY-NC-ND

©This book can be reprinted with written permission
of the publisher or Translator.

Printed in Afghanistan

ISBN 978-9936-633-52-0